کتابخانه آسمایی

دسولې، دوستۍ او ښه ګاونډیتوب سفر

د ۱۳۵۷ د ڤوریې ۱۳ - ۱۶

د افغانستان د خلکو ستر رهبر

نور محمد تره کی

د سولې، دوستۍ او نبه ګاونډیتوب سفر

د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد ته

د ۱۳۵۷ د قوس له ۱۳ - ۱۶

کتابخانه آسمایی

زمونږ ویاړلی اوستر لارښود

دافغانستان دخلکو دډموکراتیک ګوند

دمرکزی کمیتې عمومی منشی دانقلابی شورا رئیس اوصدراعظم

نور محمد تره کی

سفر شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو اتحاد ته

زمونږ دګران هیواد افغانستان اوشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو اتحاد دخلکو ترمنځ دوستی شپیته کلن تاریخ لری. دډغی کښوری دوستی بنسټ دنړی دکارګرانو لوی رهبر، داکتوبر دستر سوسیالیستی انقلاب ستر لارښود ولادیمیر ایلیچ لینن اودافغانستان دهغه وخت وطن پالونکو مشرانو لخوا اینبودل شوی دی.

دشوروی اتحاد دلیننی کمونیست ګوند اودشورا کانو دولت لخوا دغه دوستی دلینن دډغه حکم چې: «دتولو هیوادونو سره په روغه کې ګډ ژوند کولو» پرسیاست ولاړ، په انقلابی اوخلاق توګه دوام وموند. دشوروی خلکو لخوا وخت پروخت دافغانستان دخلکو سره دېرې ښې اومؤثرې مرستې وشوې اودافغانستان خلکو هم ددوی مرستو ته په خوا درنه ستر ګه کتلې دي.

زمونږ په ګران هیواد افغانستان کی هم د ۱۳۵۷ کال دثور ستر پرتمین انقلاب چې زمونږ دویاړلی اتل لارښود نور محمد تره کی دافغانستان خلکو دډموکراتیک ګوند دمرکزي کمیتې عمومی منشی، دانقلابی شورا رئیس اوصدراعظم په مشرتابه، په لارښوونه اوهدایت اودډوی دډوه اوفدا کارشاګرد، دمرکزی کمیتې منشی، دصدراعظم مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر حفیظ الله امین په قوماندۍ اوپه وسله وال پوځ کې دافغانستان خلکو دډموکراتیک ګوند دخلقی افسرانو له مبرانې په ډګ کې دننه سره ترسره شو دنادر داؤد خائینی سلطنتی کورنۍ تسلط تر پرې دابد لپاره خاتمه ورکړه اوپه افغانستان کې دزیار ایستونکو خلکو دموکراتیک جمهوریت ټینګ شو.

په ګران هیواد افغانستان کې دستر اوقهرمان «تره کی» په لارښوونه دخلقی دولت مینځ ته راتلل ددې باعث شو چې نور دخپل ستر کاونډی هیواد شوروی اتحاد سره

دوستی، یوه بل اوچت پړاو ته ورسوی نو څکه د شوروی اتحاد د کمونیست ګوند مرکزی کمیټې، د شوروی اتحاد د عالی شورا او حکومت په بلنه زمونږ ویاړلی، قهرمان لارښود د افغانستان د خلکو د موکراتیک ګوند د مرکزی کمیټې عمومی منشی، د افغانستان د خلکو د موکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا رئیس او صدر اعظم نور محمد تره کی بهرته خپل لومړنی سفر لومړی ځل لپاره شوروی اتحاد ته پیل کړ.

د غه تاریخی سفر چې زمونږ د خلکو د وروړکلوی پیوند یې د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد د خلکو سره لا تینګ او کلک کړ د پرولتاریا د نړیوال «انټرنشنلیزم» د غه سره او انقلابی شعار ته تحقق ورکړ چې وایی: «د ټولې نړۍ کارګرانو سره یوځای!»

- شوروی اتحاد ته د ستر «تره کی» تاریخي سفر نړیوالو ته د سولې زېری ورکړ!
- پدې سفر کې د سیمې او آسیا سوله او د خلکو نېکمرغي نغښتې ده!
- دا سفر د ثور د پرتمین انقلاب کورنی او نړیوال دښمنان ړندوی!
- د ستر «تره کی» چې د افغانستان زیارایستونکی خلک د دوی د مشر تابه ویاړ لری، شوروی اتحاد ته تاریخي سفر د افغانستان د خلکو د اقتصادي، سیاسی او تولنیزو اړیکو د لا پراختیا تضمین کوی!
- ویاړ د افغانستان د خلکو پر د موکراتیک ګوند!
- ویاړ د افغانستان د خلکو د د موکراتیک ګوند د مرکزی کمیټې پر عمومی منشی د افغانستان د د موکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا پر رئیس او صدر اعظم ستر او قهرمان «تره کی»!
- ویاړ د افغانستان د د موکراتیک جمهوریت او د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد خلکو ترمنځ پر وروړکلوي!
- پرېښ دی چې زمونږ نړیوال وروښه او دوستان زمونږ او د شوروی اتحاد پر وروړکلوي انقلابی خوشحالی وکړي!
- پرېښ دی چې د نړیوال پرولتاری انټرنشنلیزم پر انقلابی تینګتیا او استحکام نړیوال امپریالیزم محو او نابود شي!



ژمونږ ستر لارښود د افغانستان دخلکو ددموکراتیک ګوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی دانقلابی شورا رئیس اوصدراعظم په هغه الوتکه کی چی دقوس په (۱۳) نیټه دسپهار دنهوبجو په شاوخواکی دکابل دبین المللی ډګرخخه دمسکو په لوروالوتله .

ژمونږ ګران او انقلابی مشر دافغانستان دخلکو د دموکراتیک ګوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی، دافغانستان د دموکراتیک جمهوریت انقلابی شورا رئیس او صدراعظم نورمحمدتره کی دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد دکمونیست ګوندد عمومی منشی ، دشوروی اتحاد دعالی شورا درئیسه هیات او دشوروی اتحاددحکومت په بلنه دقوس په ۱۳ نیټه له غرمی مخکی د یوه هیات په مشری دیوه رسمی او دوستانه سفر لپاره دشوروی سوسیالیستی جمهور یتونو اتحاد ته روان شول .

دافغانستان دخلکو ستر ښوونکی او انقلابی مشر نور محمد تره کی دسپهار په اته نیمو بجو په داسی حال کی چی ددوی دسپرلی موټر دیوی ډلی موټر سایکل سپرو لخوا بدرګه کیده، دکابل بین المللی هوایی ډګر ته ورسیدل، دکابل بین المللی هوایی ډګر ژمونږ دانقلابی قهرمان مشر په عکسونو او سرومالی بیرغونو ښکلی شوی ؤ. هغه وخت چی ژمونږ ویاړلی مشر له موټر خخه پلی شو دکابل والی، کابل بلدیه والی، دملکی هوایی چلند او ګرځندوی لوی رئیس اود هوایی ډګر آمر ددوی تود هرکلی وکړ .

پدی وخت کی دافغانستان دښځو دخلقی سازمان، دوه کډونونو یو شمیر کوچنیانو زمونږ ګران او درونه مشر ته ګلونه ګیډی وړاندی کړی.

ورپسی دانقلابی شورا رئیس اوصدراعظم دافغانستان د خلکو د دموکراتیک ګوند دسیاسی بیرو لـه غړو، دمرکزی کمیټی له غړو، دانقلابی شورا او دوزیرانو دشورا له غړو، د افغانستان دخلکو دوسله وال پوځ دافسرانو، دوزارتونو له معینانو او له دولتی لوړ رتبه مامورینو، دافغانستان

دخوانانو خلقی سازمان له رئیس اوددغه سازمان درهبری لـه هیات، دښځو دخلقی سازمان درئیس اودرهبری له هیات، ددوستو هیوادو له لویـ سفیرانو او له اجمل ختک سره چی زمونږ له ګران مشر سره دمخه ښـ دپاره دهوایی ډګر ودانی ته مخامـخ لیکه ولاړ وو، خدای پامانی وکړه .

ورروسته بیا زمونږ ګران او انقلابی مشر دافغانستان دخلکو ددموکراتیک ګوند دمرکزی کمیټی عمومی منشـی دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت انقلابی شورا رئیس او صدراعظم اودخلکو دوسله وال پوځ اعلی سـرقوماندان نورمحمد تره کی په مخصوص خای کی ودریدل .


پدی وخت کی موزیک، دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت ملـی سرود وغږاوه او دخلکو دکور تشریفاتی ګارد داحترام مراتب په خای کړل .

زمونږ ګران مشر دتشریفاتی ګارددسلام او احترام دمراتبو له مخلـووروسته هغه معاینه کړ. ور پسـی دانقلابی شورا رئیس او صدراعظم



الوتکی خواته تشریف یووړ او تر الوتکی پوری نږدی درېږنیو چارو وزیر محمد اسلم وطنجار، دځارنـدوی لوی قوماندان دیپلوم انجنیر جگـړن سیدداود ټرون، دانقلابی شورا دډفترد رئیس فقیرمحمدفقیر، کابل والی ډاکتر سمیع، کابل ښاروال ډاکتر شیراقا، دملکی هوایی چلند او گرځندوی لوی رئیس، نورمحمد دلیلـی او دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحـاد د لـوی سفارت مستشار وزیـر مختـارالکسیف زمونږدگران لارښود مشایعت وکړ او له دوی سره یی خدای پامانی وکړه .

هغه وخت چـی زمونږ دستر مشراو خلاق لارښود دسپرلی الوتکه لا : افغانستان له فضاځخه نه‌وه تیره شوی، دوی او ددوی وفادار، زړور اوقهرمان شاگرداوهمرزم ملگری حفیظ الله امین دالوتکی له خاص ځای څخه چی ددوی دپاره ترتیب شوی ؤ راووتل اوپـــــه‌ټولو ورسره کسانو یـی مهربانـی او داحوال پوښتنه وکړه. پدی وخت گی‌دالوتکی په منځکی چـی دشنه آسمان په فضا گی روانه وه، ددوی دټولـوورسره ملگرو له خوا چی په خیروگی یی‌انقلابی بی ساری مننه اواحترام لیدل کیده، ډیری ژوندی‌ولولی‌وښودلی‌شوی .



ران مشر
دمسکو د
په هوایی
دشوروی
لیستـــی
ونو داتحاد
او دولتـی
له خوایـی
ی کیږی .



دمسکو په هوایی ډګر کی :

دافغانستان پـــه وخت دماسپښین دوه بجی وی چی زمونږ دګـران مشر دسپرلی الوتکه دمسکو دونکووا پـــه هوایی ډګر کی کښته شوه .

په هوایی ډګر کی چـی دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت په سرو برغونو دګران مشر په عکسونو او همدغه راز دشوروی اتحاد په ملـی بیرغونو او د شوروی اتحاد دمشر لیوْنید بریژنف په عکسونو ښکلی شوی وْ، دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاد د ګوندی او دولتی مشرانو لهخوا زمونږ ستر لارښود ته تود هرکلی وویلشو.

دافغانستان دخلکو ستر ښوونکـی نور محمد تره کـی او لیوْنید بریژنف وروسته له هغه چی موزیك دافغانستان ددموکراتیك جمهوریت ملی سرود اود شـوروی سوسیالیستی جمهـوریتـونـو اتحاد ملی سرود وغږاوه . دتشریفاتی ګارد داحترام مراتب یی چی دهغـــه هیواد هوایی، خمکنی او سمنـــدری پوځونه پکی وو، ومنل او هغه یـــی معاینه کړ .

په دغه وخت کی یو شمیر کوچنیانو دمسکو دښاریانو په نمایندګی زمونږ ګران انقلابی مشر ته دګلو ګیـــډی وپاندی ګړی.

ورپسی دافغانستان دخلکـــو او دشوروی اتحاد دخلکو مشران هرکلـی کوونکو دلیکو خواته لاړل او په مسکو کی له اوسیدونکو کور دیپلو ماتیکـو مشرانو سره یی روغبړوکړ او افغانی محصلینو او دمسکو دښار دکارګرانـو او زحمتکښانو داستازیو احساساتـــو تـه یـی پـه داسـی حال کی چی د افغانستان ددموکراتیك جمهوریت سره بیرغونه اوزمونږ ګران او ستر مشر نور محمدتره کـــی او لیونید بریژنف،عکسونه ورسره وو، او انقلابی شعارونه یی ورکول، خواب ووایه .

دهوایی ډګر له مراسمو نه وروسته زمونږ ستر مشر نور محمد تره کی اودشوروی اتحاد درئیسه هیات صـــدر لیوْنید بریژنف دموټر سپرلی په داسی حال کی چی یوه ډله موټر سایکـــل سپرو ددوی دسپرلی موټر بدرګه کاوه، او ورپسی دافغانستان ددموکراتیك جمهوریت دانقلابی شورا د رئیس او صدراعظم دملګری هیات غړی او دشوروی مشران په نورو موټرونو کـروو، د کریملین په مانی کـی خپل استو ګنځی ته روان شول.

دشوروی جمهوریتونو اتحاد تـــه زمونږ دستر او ګران ښوونکـــی نورمحمد تره کی دسفر په ویاړ دونکووا هوایی ډګراو زمونږ دګران مشـــرد سپرلی دموټر دتګ لوری واټونـــه دافغانستان دد موکراتیك جمهوریت اودشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد په ملی سرو بیرغونو ښکلی ګړی شوی، او دمیدان دودانیو په بیلوبیلو برخو کی زمونږ دګران مشـــر او دشوروی مشرانو ستر عکسونه او دغـه راز زمونږ دانقلابی مشر نور محمـــد تره کی دسپرلی دموټر دتګ لوری په واټونو کی ډېره راغلاست، تل دی وی دافغانستان او شوروی اتحاد دوستـی او بریالی دی وی دنړی دګار ګرانـو یووالی شعارونه او په لس ګونو نور شعارونه تر سترګو کیدل .

الوتکی ته نـژدی دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاد دکمونیست ګوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی او دعـالـی شـورا درئیسه هیـات صـدر جلالتمآب لیونید بریژنف د کمونیست ګوند دمرکزی کمیټی دسیاسی بیـــرو غړی اودوزیرانو دشورا رئیس الکسی کاسیګین، دبهرنیو چارو وزیر اندری-ګرومیکو دکمونیست ګونـد دمرکـزی کمیټی دسیاسی بیرو غړی او دعالـی شورا درئیسه هیات دصـدر لومـــړی مرستیال واسلی کوزنیسوف او دهغه



هیواد دکهوئیست گوند دمرکزی کمیټی منشی بوریس یوئو ماریف، په مسکو کی دافغانستان ددهوکراتیك جمهوریت لوی سفیر یوهندوی ډاکتر راز محمد پکتین په کابل کی دشوروی اتحادلوی سفیر الکساندر میخائیلو ویـــچ پوزانوف، زمونږ گران مشر ته تـودهرکلی ووایه .

دغه راز دمسکو په هوایی ډگر کی دافغانستان دخلکو ددهوکراتیك گونـددمرکز کمیټی دغهومـی منشـی دافغانستان ددمـوکـراتیك جمهوریت د



انقلابی شورا درئیس او صدراعظم او وزمره ملگری هیات دهرکـلی دپاره دعالی شورا درئیسه هیات دصـــدر مرستیال محمدالله خولوف، دوزیرانـو دشورادرئیس مرستیال ایوانارخی پوف دشوروی اتحاد او افغانستان ددوستی ډلوئی رئیس سرگـی انتونوف اود شوروی سوسیالیستی جمهوریتـونـو د اتحاد خینی نور سترشخصیتونه حاضر وو.



دمسکو دښار یوشمیر زیار ایستونکو چه زمونږ دګرانۍاو انقلابی مشر دهر کلی د پاره دونو کواپه هوایی میدان کی حا ضر شوی وو .

درسمی خبرو پیل :

زمونږ دګران او ا نقلا بی‌مشر دافغا نستان دخلکـــوددمو کراتیك ګوند دمر کزی‌کمیټی عمـو مـی منشـــی دافغا نستان د دمو کرا تیـك‌جمهوریت د انقلابی شـــورارئیس او صدر ا عظم نورمحمدتـــره کـــی او د شـوروی



سو سیا لیستـــــی جمهو ر یتـو نـــو د اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی‌دعالی‌شورادرئیسه هیات صدر لیـو نیـد ـ بریژنف ترمنځ رسمی خبری دکریملین پـــه مانې کی پیل شوی.



دافغا نستان د خلکو سترلارښود د ا فغا نستان خلق ددمو کرا تیك گوند دمر کزی کمیټی عمو می منشی دانقلابی شورا رئیس او صدر ا عظم نور محمد تره کی اود شوروی اتحاد د کمو نیست گونـــددمرکزی کمیټی عمو می منشی جلالتمآب بریژنف اود هغـــه هیواد نور مشران د ګریملین په ما ښی کی د رسمی خبرولهپیل کیدو څخه وړا ندی .



دافغانستان دخلکو ددموکراتیك گوند دمرکزی کمیټی عمومی منشـــی دانقلابی شورارئیس اوصدر اعظـــم نورمحمد تره کی دکریملین پـــه ماښی کی دشوروی اتحاد دګوندی مشر او ر ئیسه هیا ت دصدر الیونیـــد بریژنف ، دوزیرانو دشورا د ر ئیس الکسی کاسګین، دبهرنیو چارودوزیر اندری ګرومیکو او نورو عالیرتبـــه مامورینو سره د خبرو اترو په حال

کتابخانه آسمایی



زمونږ انقلابی مشر دافغانستان دخلق ددموکراتیک گوندد مرکزی کمیټی عمومی منشی دانقلابی شورا رئیس او صدراعظم نورمحمد تره کی دشوروی اتحاد د کمونیست گو ند دمرکزی کمیټی عمومی منشی اود ر ئیسه هیات دعالی شورا صدر جلا لتمآب لیو نید بریژ نف د دواړوهیوا دو تر منځ ددوستی ښه گاو نړیتوب او همکاری دټرون دلاسلیک کو لو په حال کی .



افغانستان دخلکو
ـتـر مشـر
ر محمد تره‌کی
و دشوروی اتحاد
کوندی مشر اود
ئیسه هیات صدر
لالتماب بریژنف
غه وخت چی د
واړو هیـوادو
منځ د دو ستی
رون اسناد یوبل
ورکوی .

په داسی حال کی چی زمونږ گران او انقلابی مشـر نورمحمد تره‌کی او جـلا لتمـاب لیونید بر یژنف تشریف گری‌دعامی روغتیا وزیـر او دپلان جوړولـو دوزارت‌دچاروو‌کیل ډاکتر شاه ولی او د شوروی اتحـاد دپلان جوړولـو دکمیټی رئیـس بایبا کوف ددواړو هیوادو ترمینـځ دهمکاری ددایمی کمیسیون دتشکیل موافقتنامـه الاسلیك اکوی





زمونږ ګران اوانقلابی لارښود د انقلابـــی شورا رئیس اوصدراعظم نورمحمد تره‌کی په داسی حال‌کی چی په مسکـوکـی دانقلاب دمـوزیم درئیس خرګندونی اوری .



دافغا نستان دخلکو ستر لارښود نورمحمد تره‌کی کله چی په مسکو کی دانقلاب موزیم د کتنی‌په ترڅ کی له‌هغو کسا نو سره رو غبړ کوی چـی د اکتوبر په ستـــر سو سیا لیستی انقلاب کی یی ګـډ و ن کړی ؤ له‌هغوی سره‌له‌روغبړ نه وروسته‌وویل: «خوښیږم نن موقع مومم چی‌دمسکو په ښار کی‌د شـور وی سو سیـــا لیســتـی جمهور یتونو د اتحاد، دانقلاب مر کزی مو زیم وینم. په‌رښتیا سره دغه موزیم نه‌یوازی دشوروی اتحاد دانقلاب تا ریـــخ منعکسوی ، بلکی دنړی دټولوکار ګری جنبشونودتاریخ خر ګندوی دی.» زمونږ ګران او ا نقلا بی مشر نور محمد تره‌کی او ملګری هیات‌په همدی ورځ دغرمی ډوډی پـــه مسکو کی په افغانی لوی سفارت کی وخوړه.



زمونږ ګران او انقلابـــي لارښود دافغانستان دخلکو د دموکراتيک ګوندد مرکزي کميټې عمومـــي منشـي او د انقـلابـي شـورا رئيس او صدراعظم نورمحمدتره کي دشوروي سوسياليستي جمهوريتونو داتحاد ددولت دموسس ولاديمير ايليچ لينن آرامګاه ته لاړ اودګـلو ګيډې يې پرې کښيښودله .




دغه راز د افغا نستان
دخلکـو ستر ښمو ونکی
دکريملين دمانۍ د ديوال
په خنګ کی دنومورکی
سپاهی په ښکلی باندی
دګلو ګيډی کښښو دله
اود شور وی اتحـــاد
دعسکرو يادګار ته يې چې
ددايمی سولې په خاطرې
دفاشيزم په ضد په جګړه
کی خپل ځانونه له لا سه
ورکړيدی ا حترام پـــه
ځای کړ.



دافغانستان دخلکو ستر لارښوونکی دافغانستان دخلکو ددموکراتیک ګوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی دانقلابی شورا رئیس او صدراعظم نورمحمد تره کی د شوروی جمهوریتونو داتحاد ددولت موسس لینن په قبر باندی دګلانو د اینبودلو په مراسمو کی .

دګلو اینبود لو په و خت کی زمونږ له ستر مشر سره دافغا نستان ددمو کراتیک جمهوریت دصدراعظم مرستیال اود بهر نیو چارو و زیر حفیظ الله امین او ورسره نور هیات، په مسکو کی دافغانستان ددمو کراتیک جمهوریت لوی سفیر ،دشوروی سوسیالیستی جمهوریتو نو داتحاد د عا لی شورا در ئیسه هیات د صدرمرستیال جلا لتماب محمدالله خلوف، دبهرنیو چارو دوزارت مرستیال کو زیروف او په کابل کی د شوروی اتحادلوی سفیر پوزانوف ملګری وو .



زمونږ ګران او انقلابـــی مشر دافغانستان دخلکو دډموکراتیک ګوندډمرکزی کمیټی عمومی منشی دافغانستان د ډموکراتیک جمهوریت دانقلابی شورارئیس او صدراعظم نورمحمد تره کی دلیدنی په ۱۵ورځ دافغانستان په وخت د غرمی په دولسو بجو دمسکو پـــه بشارکی دانقلاب مرکزی هوزیم وکړت .

دهوزیم دکتنی په وخت کی زمـــونږ ګران او ستر مشر نورمحمد تره کی سره ملګری غړی او په مسکو کـــی دافغانستان ددموکراتیک جمهوری دوټ اوپه کابل کی دشوروی اتحـــاد لوی سفیران ملګری وو .

هغه وخت چی دافغانستان دخلکوستر بشوونکی هوزیم تـــه ورسیدل دهوزیم په وړه کی یی دهوزیم درئیس اومنسوبینو لهخوا داحساساتو پهخرګندولـو اوپرله پسی چکچکو تود هرکلی وشو،دهوزیم رئیس دافغانستان دخلکو ستر مشرته ښه راغلی ووایـه خرګنده یی کړه : هیلهدې دانقلاب له موزیم څخه ستاسو او ستاسو ددرنـو ملګرو کتنه ستاسو دخوښی وړوګرځی،که دغه موزیم دشوروی اتحاد دخلکو پانګه، دشوروی اتحاد دکمونیست ګوند دانقلابی سنتو او مبارزو خرګنـــدوی دی .

پدی موزیم کی شپږسوه اوپنځوس زره بیل ، بیل سندونه او یو ملیون اثرونه شته او دنړی دمترقـــی او کمونیستی جنبشونو دتاریخ څه دپاسه سل زره سندونه یی خزانه تشکیلوی.



د افغانستان دخلکو
ستر الارښود د
انقلابی شورا رئیس
او صدر اعظم
نورمحمد تره کی
په شوروی اتحاد
کی دخپل رسمی
او دوستانه سفر
په ترڅ کی په
مسکو کی ددوستو
هیوادونو لوی
سفیران دکتنی لپاره
منی .



دافغا نستان د
خلکو گرا ن مشر
د انقلا بی شو را
رئیس او صدر -
اعظم نورمحمد تره کی
دمسکو په ایئرپورټ کی
دانقلا ب د مو زیم
د کتلو په ترڅ کی
هغه کسان چی د
سو سیا لیستی
ا کتو بر په ستر
انقلاب کی یی فعال
گډون درلود حضور
ته منلی دی.

ستر لارښود نورمحمد تره کی هغه وخت چی دشوروی سو سیا لیستی دولت بنسټ ایښودونکی ولادیمیر ایلیچ لینن هوزیم گوری




په مسکو کی دملی اقتصاد دمحصول نندارتون کتنه :


دافغانستان دخلکو ستر ښوونکی نورمحمد تره کی د مسکو په ښار کی دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاد دملی اقتصاد دمحصول نندار تون هم و کوت .

زمونږ ا نقلابی لارښوددغه نندارتون بیلی ، بیلی برخی چه دهغه هیواد د کلتوری،علمی او اقتصادی پرمختگونو څرگندوی دی پداسی حال کی وکتلی چی په هره برخه کی دموظفو کسانو لخوا توضیحات ورکول کیدل. دنندارتون دکتنی په وخت کی دانقلابی شورادرئیس او صدر اعظم د ملگرو پر هیات سربیره دمیلمه پالانوهیات اود دواړو هیوادونو





زمونږ اګران او انقلابی مشر
نور محمد تره‌کی هغه وخت‌چې
دمسکو په ښار کی دشوروی
اتحاد دصنعتی پرمختګونـــو
نندارتون ګوری .



زمونږ گران او انقلابـی
مشر دانقلابی شورا رئیس
اوصدر اعظم نورمحمد ترهکی
دمسکو په ښار کی دانقلاب
دموزیم دلیدلو څخه وروسته
دهغه مو زیم په کتاب کی
لاسلیک کوی .



دمسکو دښار یو
شمیر زیار ایستو-
نکو چهزمونږ دگران
او انقلابی مشـر
دهرکلی دپاره د
ونکو وا په هوا یی-
میدان کی حاضر

د شوروی سوسیالیسی جمهوریتونو اتحاد
د مشرانو په نامه پیغام

زمونږ گران او انقلابی مشر، د افغانستان د خلکو د دموکراتیک گوند د مرکزی کمیتې عمومی منشی، د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا رئیس او صدر اعظم نور محمد تره کی، د قوس په ۱۶ نېټه، کله چې د دوی د سپرلي الوتکه د دوا پر وهواډه د سرحدی فضا څخه تېره شه، د شوروی مشرانو په نامه د غه پیغام مخابره کړ.

گرانو ملگرو لیونید برېژنف او الکسی کاسیگین اود
شوروی اتحاد، د وروره هیواد نورو ملگرو!

په داسې حال کې چې له خپلو ملگرو سره ستاسو د ښکلي او وروره هیواد څخه د خپل گران هیواد په لور روان یو، غواړم د خپل خان او د سفر د ملگرو له خوا هغه تودهرکلي او مهلمه پالنې په نسبت چې ستاسو او د شوروي د وروره اوگاونډي هیواد د دوستو خلکو له خوا مو ولیدله، د زړه له کومې د مننې مراتب څرگند کړم.

شوروی اتحاد ته زمونږ د دوستانه سفر چې د ثور د پرتمین انقلاب له بریالیتوب څخه وروسته په هغه زمانو مهمو سفرو، په ډېرښتیاسره به زمونږ د دوا پر وهیواد د نواو زیار کښو خلکو ترمینځ د وروری، اوښه گاونډیتوب اړیکې د سیمې او نړۍ د سولې په گټه لا پسې پیاوړې کړی، ستاسو ترمدبرانه مشرۍ لاندې د شوروي ستر هیواد د دوستو خلکو لا بریالیتوب ته غواړم.

نور محمد تره کی

د افغانستان د خلکو د دموکراتیک گوند د مرکزی کمیتې عمومی منشی،
او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا رئیس او صدر اعظم

زمونږ ډګرال مشر، شوروي اتحاد ته دسفر له وروسته هیواد ته راستون شول



دافغانستان دخلکو ددموکراتیک ګوند دمرکزی کمیتی عمومی منشی دانقلابی شورا رئیس او صدراعظم او د هغوی ملګری دقوس په شپاړلسمه نیټه په سیمه ایزوخت ترغرمی مخکښ په مخصوصه الوتکه‌کی له مسکو نه هیواد ته را روان شول .

دمسکو په هوایی ډګر کی دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاد د کمونیست ګوند دمرکزی کمیتی عمومی منشی او دعالی شورا درئیسه هیات صدر جلالتماب لیونید بریژنف ، د کمونیست ګوند دمرکزی کمیتی د سیاسی بیرو غړی اودوزیرانو شورا رئیس جلالتماب الکسی کاسیګین، د بهرنیو چارو وزیر اندری ګرومیکو ، دسیاسی بیرو او دعالی شورا درئیسه هیات دصدر لومړی مرستیال واسیلی کوزینتسوف او دهغه هیواد دکمونیست ګوند دمرکزی کمیتی منشی جلالتمآب بوریس پوناماریف به مسکو کی د افغانستان ددموکراتیک جمهوریت لوی سفیر پوهندوی ډاکتر رازمحمد پکتین او په کابل کی دشوروی اتحاد لوی سفیر پوزانوف زمونږ له ګران مشر سره تر الوتکی پوری نژدی ملګرتیا وکړه اوورته‌یی‌دباعافیته‌سفرهیله‌وکړه.

زمونږ انقلابی‌مشر نورمحمد تره‌کی دمسکو دونکووا په هوایی ډګر کی دوزیرانو دشورا له هیات، دشوروی او افغانستان ددوستی دټولنی‌له رئیس او دهغه هیواد له نورو ستړ شخصیتونو او په مسکو کی د کور - دیپلوماتیکو او دغه راز په مسکو کی دافغانی لوی سفارت له غړیو او افغانانو او دهغه ښار له کارګرانو او زیارایستونکو له نمایندګانو سره چی‌دافغانستان دخلکو له‌ستر ښوونکی سره دمخه ښی د پاره په هوایی ډګر کی حاضر وو خدای پامانی وکړه اودهغوی احساساتو ته‌یی خواب‌ووایه.

ورپسی دافغانستان دخلکو قهرمان مشر نورمحمد تره‌کی او بریژنف وروسته تر دی چی مړزیک دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت ملی‌سرود او د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد ملی سرود وغږاوه. دهغه هیواد دخمکنی ، سمندری او هوایی پوځ په ګډون دتشریفاتی ګارد داحترام مراتب ومنل او هغه یی معاینه کړ. دمسکو هوایی ډګر او دغه راز دهوایی ډګر او زمونږ دګران‌مشر داستوګنځی تر منځ واټ ددواړو هیوادو په ملی بیرغونو شکلی کړی شوی وی، او یه بیلو بیلو برخو کی زمونږ دستر مشر نورمحمد تره‌کی او دشوروی اتحاد دکمونیست ګوند دمشر بریژنف عکسونه اوددوستی شعارونه‌لیدل‌کیدل.



دافغانستان دخلکو دستر لارښود اود دوی دملګری‌هیات دسپرلی‌الوتکه دقوس‌په ۱۶ نیټه له‌غرمی نه‌وروسته‌په خلوروبجو اوپنځلسو دقیقو دکابل په نړیوال هوایی ډګر کی راکښته شوه.

هیوادته دانقلابی شورا درئیس اوصدراعظم رارسیدل



زمونږ گران او انقلابی ستر مشر دافغانستان دخلکو ددموکراتیک گوند مرکزی کمیتی عمومی منشی، دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا رئیس او صدراعظم نورمحمد تره کی، دصدراعظم مرستیال او دبهرنیو چارو وزیر حفیظالله امین او ملگری هیات یی زمونږ دوست اوگاونډی هیواد دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو اتحاد ته له رسمی او دوستانه سفرنه وروسته دقوس په ۱۶ نیټه مازیگر هیواد ته راورسیدل .

دافغانستان دخلکو دستر ادرښود او ددوی دملگری هیات دسپرلی الوتکه له غرمی نه وروسته په خلورو بجو او پنځلسو دقیقو دکابل په نړیوال هوایی ډگر کی راکښته شوه، کله چی زمونږ دگران مشر دسپرلی الوتکه دهوایی ډگر ترمینل ته مخامخ ودریده او زمونږ پیاوړی ښوونکی له الوتکی څخه کښته شو، الوتکی ته نژدی دکورنیو چاروو زیر اسلم وطنجار، دځارندوی لوی قوماندان دیپلوم انجنیر جگړن سید داود ټرون دانقلابی شورا ددفتر رئیس فقیر محمد فقیر ، کابل و الی ډاکټر سپهاك، کابل ښاروال ډاکټر شیر آقا، دملکی هوایی چلند او گرځندوی لوی رئیس نورمحمد دلیلی او په کابل کی دشوروی اتحاد دلوی سفارت مستشار وزیر مختار او شارژدافیر الکسی یف زمونږ گران مشر ته هرکلی ووایه .

ورپسی د افغانستان دخلکو انقلابی پیاوړی مشر نورمحمد تره کی مخصوص ځای ته تشریف یووړ، وروسته له هغه چی موزیک دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت ملی سرود وغږاوه، دخلق دتشریفاتی گارد داحترام مراتب یی چی څمکنی اوهوایی وسله وال پوځ پکی و، ومنل اوهغه یی وکوت .

ورپسی دانقلابی شورارئیس‌او صد راعظم دهرکلی کوونکو صفونو ته لاړ ،په داسی حال‌کی چی د انقلابی شورا درئیس او صدراعظم ماند ینی میرمن‌تره‌کی تشریف درلود،دسیاسی بیرو له غړیو، د افغانستان دخلکو د دمو کراتیك گوند د مرکزی کمیتی د غړیو،دانقلابی‌شورا او د وزیرانو د شورا له غړیو او ددوی‌له‌محترمومیرمنو، د افغا نستان د خلکودوسله وال پوځ‌دافسرانو، دوزارتونوله معینانو او دولتی لوړرتبه



مامورینو ، د ځوا نانو د خلقی سازمان‌درئیس‌او دهغه‌دسازمان درهبری له‌هیات، د بنځو د خلقی سازمان له رئیسی او د رهبری له هیات ، په کابل کی ددوستو هیوادونو لو یو سفیرانو اونظامی‌اتشو، اجمل ختك او نورو هر کلی کوونکو سره یی روغبړ او داحوال پو بښتنه وکړه او د دوی تودو او له‌ولو لو نه ډکو احساساتو ته یی ځواب ووایه .

کله چې دافغانستان دخلکـــو د
دموکراتیک ګوند دمرکزی کمیټی عمومی
منشی، دانقلابی شورارئیس اوصدراعظم
دهر کلی کـوونکـو دلیکـو په لور
تللو دوړکتونونو یوشمیر مـاشومانـو
چې افغانی ملیجامې یی اغوستی وی،
زموږ ستر مشر ته دګلدو ګیډی وړاندی
کـړی چـې د هغـوی د خـاصـی
مهربانی وړ وګرځیدل .







دهوایی ډګر له‌مراسمو ورو سته زمونږ گران‌اوانقلابی مشر نور محمد تره‌کی دحاضرینو د زیاتوخوښیو او ولولو په څپوکی ، په‌موټر کی په داسی حال کی‌چی دهغوی موټردیوی ډلی موټر سایکل سپرو لخوابدرګه کیده ، د خلکو کورته روان شو .

دکابل له‌بین المللی هوایی ډګر څخه دخلکو دکور ترخنیځی دروازی پوری د کابل د ښار په زرګونو شریف خلك چی کار ګران، کسبګر او پیشه وران ،د پوهنتون محصلان اود لیسو اوښوو نځیوزده‌کوو نکی د کابل د ښار د ګوندی او خلقی سازمانو نو غړی، دوسله وال پوځ دتعلیمی‌مؤسسو طلاب دنار ینه وو او ښځو په ګډون دولتی ما مورین پکی ؤ، په پرله پسی چکچکو، د ګل پاڼو په شیندلو د انقلابی‌مینی او د ژور احترام د احسا ساتو په ښودلو اودژوندی اوروغ‌رمټ‌دی‌وی د افغا نستان د خلکو ستر مشر تره‌کی.

سر لوړی دی وی سور ملی بیرغ !

تل دی وی د ثور نه ماتیدو نکی انقلاب او په سل ګونو نورشعارونو سره یی چی له خپل خلقی دولت، او خپل ګران او ستر ښوونکی سره زمونږ د نجیبو خلکو د پوره یووالی او ملاتړ څرګندوی وو، زمونږدګران مشر هرکلی وکړ.

د کابل د بین المللی هوایی ډګر او د خلکو د کورترمنځ واټ په‌سرو ملی بیرغونو انقلابی شعار ونو او د بریا لیتوب په تا قو نو ښکلی کړی شوی‌ؤ اوزمونږ دګران مشر په زرګو نو عکسونه د هر کلی کوونکو دسترو ټولنو په منځ‌کی ترستر ګو کیدل .



دافغانستان او شو روی اتحاد
د دوستی اړیکی چې اصلی او
اساسی سټنی یی د اکتوبر او دثور
ستر انقلابونه دی نه یوازی
د دواړو هیوادو د خلکو ګټی
تائیدوی بلکی د آسیا په سیمه او
ټولی نړی کی د سولی د ټینګښت
ګټور او اغیز من عامل بلل کیږی
او دبین المللی سولی او امنیت په
ټینګښت کی هم ستر او ګټور رول
لوبوی .

«دکریملین په مانۍ کی زمونږ دګران مشر
نورمحمد تره کی دافغانستان ددموکراتیک ګوند
عمومی منشی اودافغانستان دانقلابی شورارئیس
اوصدراعظم دوینا له متن څخه »

په باور سره ویلی شو چه دغه
ټرون یو مهم سیاسی سند دی چه
نه یوازی د شوروی او افغا نستان
د دوستی دلا پیاوړ تیا لپاره یو
بنسټ ږدی بلکی په آسیاکی او له
دی امله په ټوله نړی کی دسولی
او امنیت په ګټه وی .. .

« دصدر لیونیدبریژنف دوینا له متن څخه »

زمونږ دګران اوانقلابي مشر دافغانستان خلکو
دډموکراتيک ګوند دمرکزي کميتې عمومي منشي
دافغانستان دډموکراتيک جمهوريت دانقلابي شورا
دړئيس اوصدراعظم **نور محمد تره کی**
دوينا متن په هغه ميلمستيا کې چې ددوی
په ويار دشوروي سوسيالیستي جمهوريتونو
داتحاد دکمونست ګوند دمرکزي کميتې دعمومي
منشي ليونيد برېژنف له خوا درکړيلين په مانۍ
شوی وه .

ستر او ډیر ګران ملګری دشوروی سوسیالیستی جمهوریتو نو اتحاد د کمونیست ګوند دمرکزی کمیتی عمومی منشی اودعالی شورا د رئیسه هیات صدر لیونید بریژنف اودوزیرانو دشورا رئیس ملګری الکسی کاسیګین ! ملګرو او درنو دوستانو !

زمالپاره دډیری ژوری خوښی ځای دی چی دافغانستان د خلکو دثور دستر او پر تمین انقلاب نه وروسته می فرصت ومونده چی دلومړی ځل لپاره له خپل ګران هیواد څخه بهر ته سفر وکړم او دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاد ستر، بشکلی او دوست هیواد وګورم او له نژدی څخه دخپل ګران ملګري اونورو شوروی درندومشرانو سره خبری وکړم او ددواړو ښو ګاونډیو هیوادو دګوند ونو ،حکومتونو ،دولتونو او خلکو په اړوندو موضوعاتو باندی دملګرتیا او دوستی په فضا کی وغږیږم.

دخپل ګران ملګری اودشوروی اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزی کمیټی او د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد دعالی شورا د رئیسه محترم هیأت اودشوروی اتحاد د حکومت له مینې ډکی بلنې څخه چې د دغه دوستانه مسافرت او د دغه دوست او ورور هیواد له ګوندی، دولتی او حکومتی د رنو مشرانو سره یې د لیدنې کتنې او د دستر او ډیر ښه ګا ونې هیواد شوروی جمهوریتونو د اتحاد د پر مخ تللی او انقلابی قهرمانو او ژیا رایستونکو خلکو سره له نژدې څخه د ژیا تی اشنا یې زمینه راته برابره کړې، د زړه له کومې مننه کوم.

د شوروی اتحاد د ګوندی، دولتی او حکومتی مقاماتو او نجیبو خلکو له هغه تاوده هرکلی او میلمه پالنې څخه چې ستاسو په ښکلی هیواد کې زما او زما د ملګرو د راتګ له شیبې څخه شوی دی خپله مننه خرګندوم.

د افغانستان او شوروی خلکو ترمنځ دوستانه او دورور ګلوی اړیکی لرغونی او تاریخی پس منظر لـــری چـــی د زمانـی له ټولو تجر بـــو او از مویښتو څخه په بریالیتوب سره راوتلی او له شپیتو کلو څخه د زیاتی مودی په اوږدو کې یې د خپلې و دی او تکا مل پراوونه په بری سره وهلی دی.

د دغو ښوارۍ کو اوښه ګاونډیتوب بنسټ د شوروی اتحاد او نړی د مترقی او انقلابی کارګر انو او زیار ایستونکو دستر مشر ملګری ولا دیمیر ایلیچ لینن او د افغانستان د ازادی د لارۍ د مبارزینو له خوا ایښودل شوی دی. هغه و خت ستر لینن د خپلو داهیانه او ابتکا ری لارښو دنو په وا سطه د اکتوبر د ستر سوسیالیستی ځلانده انقلاب د مبارز او ازادی ښونکی کمونیست ګوند په مشری بریالیتوب ته رسولی وو او د شوروی کارګرو او زیارایستونکو په

وسیله یی دلومړی سوسیا لیستی ستر دولت اساس اینبی ؤ زمونږ په هیواد کی دافغانستا ن په خپلوا کی مینوا و مبا رزو خلکو د خپلو قهرمانو او او استعماردښمنو ملی مشرانو په لا رښو ونو د برتانیااستعماری او تیری- کوونکی تسلط پای ته رسولی او دافغا ن اوانګلیس په در یمه جګړه کی یی د ګران افغانستان سیاسی بشپړ ه خپلو ا کی په بری سره ترلاسه کړی وو.

داوخت دلومړی ځل لپاره دلیننی سو له ایز او دوستانه بهر نی سیا ست اصول چی یو تربله دملی خپلوا کی د پیژندلو ،د خاوری تمامیت اوحا کمیت ته د احترام او دیوبل په کورنیو چارو کی دلاس نه وهلو،دغرض نه تشو او ګټورو مرستو پربنسټ ولاړ و و د افغانستان او شوروی اتحاد د ګاونډ- یتوب د اړیکو په ډګر په صادقانه او رښتینی توګه تطبیق شول .

هغه استعماری اواستثماری اصول او نابرابر او غیرعادلانه اسا سونه چی دا کتوبر د ستر انقلاب نه دمخه د دوو ګاونډیو هیوادونو په متقابلـــــو اړیکو کی موجود وو ،دتل لپاره له منځه یووړل شول .

دشوروی جماهیرو اتحاد زمونږ لومړی دوست هیوادو چی دا فغا نستا ن خپلوا ک اوملی دولت یی په رسمیت وپیژانده او دخپل جنوبی ګاونډ ی هیواد له خپلوا کی اوملی موجودیت څخه یی خپل هراړخیز ملاتړ څرګند کړ اونوی خپلو ا ک شوی افغانستان ته یی خپلی مالی او ا قتصادی مرستـــی وړاندی کړ ی،او افغانستان لومړی هیواد وچی د ستر لینن په مشری یی شوروی اتحاد په رسمیت پیژ ندلی وه.دشوروی اتحا د دستر او ا نقلا بی هیواد دغه ددو ستی او ملاتړ دریځ به ددواړو دوستو او ګاونډ یوهیوادو د خلکو دوستانه اړیکو په تا ریخ کی د دواړو هیوا د ونو د د و ســتـــی او همکاری دلومړی بنسټ او دډیری زیاتی ارزښتمنی اوخو ږی خا طـر ی

په توګه دتل لپاره ژوندی وی. دافغان او انګلیس په د ریمه جګړه کی د افغانستان دخلکو بریالیتوب کەخەهم د ننه پەافغا نستان کی یی دزاړه- استعمار مستقیم او نظامی تسلط پای ته ورساوەخو پەبیلو بیلوبنو داستعمار او امپریالیزم غیر مستقیم موجودیت اوپه بیلو بیلو ا نو اعو امپر یا لیستی استثمار د افغانستان د خلکو دثور دستر انقلاب تروخته دوام درلود .

دننه پەافغانستان کی دپردیودمستقیم او دا مپریالیزم دا ستثما ری تسلطاصلی عامل زمور په هیوا د کی دنادر د سلطنتی کورنی منځ تــه راتګ ؤ چی دافغانستان په تار یخ کی یوه ویر جنه پیښه ګڼله کیږی .

دغەظالمەاو مرتجع کورنی دبین المللی امپریالیزم دخا ص ګوډا ګی پــه توګــه او د خپل استثما ری ، فیوډا لی ، ارستو کر اسی او خلقی ضد ما هیت پەلرلو سره نه یوازی داچی دخپل استبدادی او دمنځنیو پیړیو دحا کمیت دتیری پنځوس کلنی دوری په اوږدو کی یی دافغا- نستان دزیار کښو او نجیبو خلکو د سیاسی ،اقتصادی ،اجتماعی ،فر هنګی علمی او ایدیالوژیکی و دی او پراختیا مخه ونیو له ، دهیوا د د پرمختګ او ارتقا خنډ شوه بلکی پەخپلو ارتجاعی بشری ضد او استثماری بیلو بیلو بنو یی افغانستان دبشپړ وروسته پاتی والی په حالت کی دنړی دهغو هیواد وپه کتار کی ساتلی چی بیخی یی لږەوده کړی ده او تو لی شیګنی او امتیا زو نه دیوه فا سد ا و مفت خو ر ا قلیت په بر خەوو او دهیواد د کار ګرانو،بز ګرانو،منورینو،اودنورو زیارایستونکوپەشمول دافغانستان دزیار- ایستونکو خلکو مطلق اکثریت لەبشپړ محکومیت اومحر ومیت سره لا س او ګریوان ؤ .

همدغه شان دنادر سلطنتی کورنی دنړیوال استعمار او امپریا لیزم او نړیوالی ارتجاع سره دخپل تینګ ارتباط له مخې د خپل جا برا نه او استثماری تسلط په وخت کې موقع ورنه کړه چې دهیواد بهرنی سیاست دهیواد دخلکو دهیلو او ګټو سره سم وده او پراختیا وکړی. په حقیقت کې دهیواد بهرنی اړیکی له بل هرڅه نه زیات دحاکمې خلقی ضد طبقی دشخصی ګټو او دامپریالیزم د هیلو سره سم پر مخ بیول کیدلی.

په نتیجه کې امپریالیستی اسارت او دسلطنتی کورنی غیر ملی سیاست د دی سبب شو چې دافغانستان او دوستو هیواد و په تیره بیا دنړی لـــــه سوسیالیستی کارګری مترقی انقلابی هیواد و سره دافغانستان دوستانه مناسبات، مثبتې او ګټوری همکاری دخنډاو یادڅه ناڅه ځنډ په حال کې پاتې شی اوسالمه اوهرارخیزه وده ونه کړی.

دافغانستان مبارزاوانقلابی خلک د دغه خلقی ضدوضعی په مقابل کې بې تفاوته پاتې نه شول اوپه بین المللی امپریالیزم پورې له تړلی استبداد ي اوارتجاعی تسلط څخه دخان خلاصولو لپاره بې پرله پسې مبارزو، قیامونو او هلوڅلوته په زړور تیاسره دوام ورکړ.

څرنګه چې دغه مبارزی اوقیامونه په ځانګړی ډول اویا په غیراصولی توګه رواونو ډیر لږ په مطلوبی او ورو ستی نتیجی ته رسیدل او مبارزې زلمیان به ډلی ډلی غرغره کیدل اویا به دیحیی دکورنی په استبدادي او غیر بشری زندانو کې اچول کیدل.

په نتیجه کې دغه مبارزی چې داستعمار، امپریالیزم اودهغود ګوډاګیانو په مقابل کې دافغانستان دخلکو دخپلواکی بخښونکی ملی مبارزو اوپاڅون

دوام وو تر زیاتی اندازی پو ری دهیواد دمحرومواو زیا رایستونکو خلکوسیا سی ا وطبقا تی شعو رته وده وو رکړه چی د هغو په اثـــر دغو ملی او دموکراتیکومبارزو لاسنظمه بنه ځـان تـه غوره کړه ، خو څرنگه چی دغه مبارزی په مترقی انقلابی ایدیالوژی ولاړی نه وی نو یی نه شوکولای چی ارتجاعی او استبدادی حاکمه قدرت ته غوځ او وروستی ګوزار ورکړی او دتل له پاره وروستی بری ترلاسه کړی .

په پای کی د افغانستان دخلکودموکراتیک ګوند (دهیواد دکارګری طبقی مخکښ) چی په کارګري علمی او انقلابی ایدیالوژی سمبال ؤ منځ ته راغی او خپله لومړی کانګره یی د ۱۹۶۵ کال دجنوری په میاشت کی د کابل په ښار کی جوړه کړه .

دافغانستان دخلکودموکراتیک ګوند دافغانستا ن دخورا انقلا بی زامنو په راتو لو لو سره دفیو ډالیز م ، اریستو کراسی ، استعماراو استثما ر اودبین المللی او کو رنی ارتجاع په خلاف په اصولی او هر اړخیزومبا رزو پیل وکړ .

دافغانستا ن د کارګر انو، بزګرا نواو نو رو زیار ایستونکوطبقا تی اوسیاسی شعو رته یی وده اوپر اختیا و رکړه، تر خودو روستی انقلابی قیام لپاره دهیواد دخلکوذهنی اوطبقا تی شرایط بر ابر شو ل. نو د خا صو عینی اوذهنی شر ایطو او دافغانی تو لنی دتکامل له سر حلی سره سم دافغا نستا ن دخلکو دموکر اتیک ګو ند (دهیو اد د کارګری طبقی مخکښ) په لارښو ونه دافغانستان دخلکودثو رستر انقلاب بر یالی شو او دسیاسی واک دتر لا سه کو لوپه لاره کی یی د کارګری انقلاب بونو لپاره یوخرګند اوخاص مثال وړاندی کړ او د کا رګر انو د مترقی ا نقلا بو نو په تیرو تجر بو با ند ی یی په

تیره بیادو رته تو لنو په بر خه کی یو ه نوی او ممتازه تجر به ور زیاته کړه.

دغه خاص افغانی انقلاب دافغا نستان دزړورو او قهر مانو افسر انو په وسله وال ځ کې ون چې دافغانستان د کار ګر واوزحمتکښانو زامن دی دافغانستان دخلکودمو کر اتیک ګو ندپه لارښو و نه خپل و رو ستی بری ته ورسید چې دهغه په نتیجه کې په ار تجاع او امپر یالیز م پو ری دتړ لی سلطنتی رژ یم و راسته او تار یخ ځپلی نښی نښانی له منځه یو وړ لشوی او دهغه ځا ی د افغانستان نوی مترقی دمو کر اتیک جمهو ری رژ یم و نیو.

دثو ر دسترانقلاب په بری سره دافغانستان محر و مو اوز یارایستو نکو خلکوته ددی زمینه بر ابر ه شوه چې دخپل و یار لی ځ کو ند، دافغانستان دخلکو دمو کر اتیک ځ کو ندپه لارښو و نه چې د کار ګري طبقی مخکښ دی، دافغانی نوی او غو ړ یدو نکی تو لنی په جو ړ و لو کی فعا لانه او آګا ها نه بر خه و اخلی او په خپلو پر له پسی انقلابی فعالیتو نوسره دغیر پانګوالی د و د ی دلاری په غو ره کو لو له فیو دالیز م نه د پو ری و تلو په مر حله کی ددا سی تو لنی دجو ړ و لو خو اته ر و ان دی چې هلته هر څو ک د خپل استعدا د او کار په اندازه مزد اخلی او فر د دفر د په واسطه نه استثمار یږی.

دثو رسترانقلاب چې سیاسی اودولتی قدرت یی له ستمګرو او استثمار ګرو حا کمو طبقو څخه ستم ځ کا لو نکو او استثما رشو یو خلکو ته و لیږ داوه افغانی تو لنه یی دانقلابی چټک او بیساری ډ ینامیزم په نوی پړ او کی ودر وله.

دافغانستان دمو کر اتیک جمهوری حکومت داوومیاشتو په دی لنډه مو ده کی دافغانستان دخلکودمادی او معنوی شر ایطو دښه کو لولپا ره په سیاسی تو لنیزو، اقتصادی، ایدیولو ژ یکی، فرهنګی، علمی او نو ر و بر خو کی په پر اخو او ژ و ر و اقداماتو لاس پو ری کړ. دافغا نستان دمو کر ا تیک

جمهو ریت دانقلابی شو ر افر مانو نه هغه کلک‌او ماتو ونکی‌گو ز ارو نه وو چې‌دا رتجاع ارستو کر اسی،فیو دالیز م‌او داسټما ر پر و رستوهلو کو و شو ل. زمو نږ دانقلابی‌شو را شپږ مه ګڼه فر مان‌دیو و و لس ملیو نو په شاو خوا کی بی‌ځمکی او لږ ځمکی بز گر ان دسود خو رو له‌د ر انده پیټی او ستم‌څخه خلاص کړ ل .

دانقلابی‌شورا او ومه ګڼه‌فر مان‌دفیو دالیز م دبقایاوهغه‌ناو ړه او و ر استه‌دو دونه‌چې زمو نږ دهیو ادد کارگر و بزگر و او نو روزیارکښو خلکو دبچیا نو د و دو نو لا ړه کی یی ستر خنډ ونه پیدا کو ل له منځه یو و ړل‌او دښځو او نار ینه و تر منځ یی د حقو قو بر ا بری تأمین کړه.

دانقلابی‌شو ر ا اتمه ګڼه‌فر مان به‌چې‌دځمکوددمو کراتیکواصلاحاتو په‌باب کی‌دی په افغانستان کی‌فیو دالیز م دړ ی و ړی کړی او دافغانـی بز گر انو له‌او ږو خځه به دفیو دالانو د ستم تار یخی جغ د تل لپا ړه وغو رزوی .

دثو ر ستر انقلاب‌چې دافغانستان دټو لو نجیبو او ز یار کښو خلکو رښتینی‌اوهر اړخیز ملاتړ و ر سره‌دی، د خپل گو ند ، حکو مت او د و لت له‌ټولواقداماتو څخه چه د هغوی هیلی او ګټی تمثیلوی په خو بښی سره هر کلی‌اودفاع کوی. خو یو کو چنی لږ ه کی‌دامپر یالیز م‌او جها نی سیمه ایزی او کو رنی ار تجاع په‌لمسو ن او د خپل خلقی ضد او انقلا بی ضد خصلت په‌اساس له‌دی کبله چې د ثو ر دانقلاب او ز مو نږ دخلقی دو لت داقداماتو په‌نتیجه کی‌یی‌خپلی او دخپلوبادار انو ګټی‌په خطر کی‌و لیدلی دانقلاب،ګو ند ،حکو مت، دو لت او ز مو نږ د ټو لو ز یا ر ا یستو نکو خلکوپر ضدپه‌تبلیغاتو ،لمسو نو ناو ړه‌قصدو نو ،تو طئو او دسیسو او نو ر و انقلابی‌ضد اقداماتو او فعالیتو نو لاس پو ری کړ .

دغه د ارتجاع، امپریالیزم، اشرافیت او فیوډالیزم مزدوران او کوډاګیان چې څه په پخوانۍ سلطنتي کورنۍ او دهغوی په تالي څټو پورې تړلي دي او یوځه یې د تاریخ ځپلي ارستوکراسۍ عناصر دي څه یې اخوان الشیاطین او کینۍ افراطیانو، تنګ نظره او عظمت غوښتونکي ناسیونالستان او نور انحرافي او د ترقۍ، د موکراسۍ او د خلکو دکټو ضد ډلو ټپلو پورې تړلي عناصر دي چې له نیکه مرغه د هغوی تولیدسیسې اوضد انقلابي فعالیتونه بیخې رسوا شوي او دوینبو خلقیانو دحکومت او خلکو له خوا په خپل وخت سره له منځه وړل شوي او په راتلونکي وخت کې به هم له منځه یووړل شي ځکه چې د هغوی ضد انقلابي فعالیت د خلکو دکټو په ضد او د تاریخ د جریان او د ټولنې د تکامل دیون په خلاف دی.

د افغانستان د خلکو دثور ستر انقلاب ټول هغه خنډونه چې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ یې د دوستۍ او ده شنډوله له منځه یووړل او دا خنډونه په افغانستان کې په امپریالیزم او بین المللي ارتجاع پورې د تړلو خلقي ضدحاکمه طبقاتو شته والی ؤ.

دوست هیواد شوروي اتحاد هغه لوړې هیواد ؤ چې د افغانستان له انقلاب نه وروسته یې ډیر ژر د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت نوي رژیم په رسمیت و پیژاند او د افغانستان د خلقي انقلاب په نسبت یې د شوروي خلکو هر اړخیز ملاتړ څرګند کړ او د افغانستان د حکومت او خلکو ته یې خپلې بې ساري مرستې زیاتې کړې.

د دوست شوروي اتحاد خلکو او حکومت او دولت دغه دوستانه او د وروري دریځ پخپله زما او د افغانستان د حکومت، دولت او خلکو د ژوري مننې وړ دی.

دافغانستان د دموکراتیک جمهوري دولت اودشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاد د دوستۍ اوښه ګاونډیتوب اړیکی چی دبرابری وروری اویو دبل د حاکمیت اوملی خپلواکۍ دخاوری تمامیت ته په احترام ، په متقابل باور اوتفاهم اویو دبل په کورنیو چارو کی د لاس نه وهلو اود ګټورو او بی غرضو مرستو په اصولو ولاړی دی د د واړو دوستو ګاونډیو هیوادونو دسشر انو له هیلو اوددواړو هیوادو دخلکوله ګټو سره سم دخپلی ودی اوپر مختګ پراووته په بریالیتوب سره وهی .

دافغانستان اوشوروی اتحاد ددوستۍ اړیکی چی اصلی اواساسی ستنی بی داکتو براو د ثورستر انقلابو نه دی نه یوازی ددواړو هیوادو د خلکو ګټی تائیدوی بلکی داسیا په سیمی اوټولو نړۍ کی د سولی د ټینګښت ګټور او اغیز من عامل بلل کیږی اودبین المللی سولی او امنیت په ټینګښت کی هم ستر او ګټور رول لوبوی.

زموږ دتودیو لو لی په هغه ټون کی څرګندیږی چی نن زموږ د دواړو هیوادو تر منځ لاسلیکشو . زموږ د دوستی له لومړنیو ټونځه تر اوسه اوه پنځوس کاله تیر شوی چی ددوستی په کلونو کی زموږ اړیکی ډیری زیاتی ټینګی شوی او دورو ګلوی په اړیکو بدلی شوی دی چی په هغو کی د طبقاتی مبارزی ډول څرګند شوی دی. نوی تړون نه یوازی ددواړو هیوادو د خلکو تر منځ دوستی څرګندوی بلکی داکتو پر دا نقلاب د هیواد یعنی شوروی اتحاد اودثور دانقلاب دهیواد یعنی افغانستان د ګډودښمنانو له پاره غوښ ځواب دی.

دافغانستان اوشوروی اتحاد دوستی چی ددواړو هیوادو دخلکوله ګټو او نړیوالی سولی سره پوره سمون لری دهیڅ یوه دریمګړی هیواد پر ضداو

زیان نده. زه اوس انقلا بی ملگری او دافغانستان تول خلک دپیر درانده ملگری بر یژ نف هغی ارزښتنا کی ویناچی په با کو کی یی و کړه او دهغی په ترخ کی یی دافغانستان اوشوروی اتحاد دارپکو او دافغا نستان دانقلاب په هکله چی یو خالص او ټکه افغانی انقلاب دی د امپر یالیستی او ارتجاعی کړ یو دروا غ تو رونه په غو څه تو ګه رد کړ ل تو دهر کلی کو و .

دخوښی ځای دی چی دافغانستان اوشوروی اتحاد دریځونه چی دواړه دنړی دسولی او امنیت غوښتونکی دی دنړی دا کثرو مهمو مسئلو اوموضو عاتو په باب یوشان دی.

دافغانستان دمو کراتیک جمهوریت دیوه سوله خوښوونکی او دنا پیلتوب پالیسی د و فادار هیواد په تو ګه دبین المللی سو لی او امنیت دتینګښت او دپوره بی و سلی کولو په لاره کی چی د نړی د په سوله مینو او مترقی هیواد و او خلکو پا م یی ځا نته اړولی دی ستا سو دستر هیواد دپرله پسی هڅو او مهمو ابتکارو نو ملاتړ کوی او په هغو سترو قربانیوباندی له خبرتیا سره چی ستاسو زړه ورو خلکو دامپریالیزم — نازیز م او فا شیزم پر ضد قهرمانانه مبارزو کی ورکړ ید ی پدی پوهیږی چی دشوروی - اتحاد دوست خلك بین المللی اوټر یوا لی سو لی او ا منیت ته خا صه مینه او ژوره علاقمندی لری، دپوره بی وسلی کولو دتحقق په لار کی ستاسو بی شمیره سوله خوښوونکی ابتکار و نه دنړی ټولو خلکو ته څر ګند دی . شوروی اتحاد په حقیقت کی د هغو مهمو ابتکارونو مخکښ د ی چی تر اوسه پوری دذروی وسلی په ګډون دپوره بی وسلی کولو ، ددیتا نت او د بین المللی لانجو د اوارولو دپروسی دپیاوړ تیا او دتینګښت، دپوځی بودجی

او لگښتونود کمښت، د هیوادو ترمنځ د دوستۍ او همکاری د اړیکود پراختیا په باب د بین الدول د عمومی حقوقو د پرنسیپونو او مترقی اصولو د تکامل او ودی او د هیوادو په کورنیو چارو کی دلاس نه‌و هلو پرنسیپ د تکامل او ځینو نورو موضوعاتو په هکله شویدی. د نړیوالی سولی د تینګښت په لار کی د غه خو مثاله د شوروی اتحاد د سولو غوښتونکو او بشر پالو نکو اقداماتو څرګندوی دی.

د ژوی وسلو نلرونکو هیواد وته د امنیتی تضمیناتو د تینګښت په باب د یوه بین المللی تړون د بشپړ یدو په باب ستاسو د هیوادنوی او مهم پیشنهاد چی دبی وسلی کولو په هکله د ملګرو ملتو د عمومی ټولنی په خاصه غونډه کی د شوروی اتحاد د بهرنیو چارو د وزیر ملګری اندری ګرومیکو لخوا د شوروي حکومت او دولت په نمایندګی وړاندی شو او د عمومی - اسامبلی په روانه غونډه کی تر بحث لاندی دی د ژوی وسلونلرونکو ډیرو هیوادو او د هغو په لړ کی افغانستان ته د ډاډ او امنیت موجبات برابر کړیدی.

خوشاله یم چی د غه حقیقت ته ګوته نیسم چی د افغا نستان د موکراتیک جمهوریت د نړیوالی سولی او د سیمی د سولی او امنیت د ترلاسه کید و لپاره د شوروی اتحاد د سولې غوښتونکو پیشنهادو ملاتړ کړی او د هغو د دفاع لپاره یی په بین المللی غونډو کی ستاسو له هیواد او د نړی له نورو سوله غوښتونکو سوسیالیستی او مترقی هیوادو سره په ګډه ټینګه هڅه کړی او په راتلونکی و خت کی به یی هم و کړی.

د افغانستان د موکراتیک جمهوریت د خپل سوله غوښتونکی ملی مستقل بهرنی سیاست له تعقیب سره او د فعا ل نا پیلتوب د نړیوا ل نهضت په پرنسیپونو او اصولو باندی په بشپړی پابندی په ټوله نړی کی له دوستو هیوادو سره د دوستانه اړیکو او ګټورو او بی غرضه همکاریو د لرلو هیله من دی.

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت دنا پیلتوب دنهضت د یوه وفادار او مترقی غړی په توګه داستعمار ،امپریالیزم،استثمار،صهیونیزم،نژادی ـ توپیر ، اپارتاید اوپه بین المللی ټولنه کی د نورو مظالمو اوبی عدالتیو پرضد د سولی دتامین ،دیتانت او دنړیوالو لا نجود مینځه ورلو څخه دفاع ته دغه نهضت له نورو غړو سره وخپلې ټینګی همکاری ته دوام ورکوی او لکه څنګه چی یی په ها وانا کی دا نسجام د د فتر د غړو نا پیلو هیوادو دبهر نیو چا رو دوز یر انو په غونډه او په بلګراد کی دټولو نا پیلو هیوادو د بهرنیو چارو دو زیر انو په غونډه کی خپل فعا ل نقش لوبو لی هیله لری چی دنا پیلو هیوادو د دولتو او حکومتو نو مشرا نو په شپږ مه غونډه کی ددغی جرګی دپریالیتوب لپاره چی په راتلو نکی کا ل کی د کیوبا په قهرمان هیواد کی جوړیری خپل فعال اوګټور نقش ولوبوی او په اغیزمن ډول یی تعقیب کاندی.

دافغانستان دموکراتیک جمهو ریت له ګاونډیو هیوادو او د سیمی له هیوادوسره ددوستانه اړیکو او ښه ګاونډیتوب هیله لری.غواړی چـــی خپلی دوستانه اړیکی له هند، بنګله دیش ،ایران ،پا کستان اود چین له ولسی جمهوریت سره وساتی او وده ورکړی .

دافغانستان دموکراتیک جمهوریت هیله لری چی هغه یوا ځنی سیاسی ستونزه چی دپښتنو اوبلوڅو خلکو دسرنوشت په باب یی له پا کستان سره لری دموضوع تاریخی سوابقو ته په کتنه ددوستانه خبرو له لاری په سوله ایزه توګه اوپه وروستی اوغوښه توګه حل کړی.

افغانستان ددغی مفکوری ملاتړ کوی چی دهندسمندر دی د سولی دسیمی په توګه وپیژندل شی اوتیری کوونکی پوځی اډی دی ترینه وایستلی شی.

دافغانستان دمو کراتیک جمهو ریت د هندوچین په سیمه کی دسولی او امنیت دتینګښت ملاتړ کوی او هیله لری چی بین المللی ستونزی دی په سوله ایزه وسایلوسره حل شی. دامپریالیستی ټیری په مقابل کی دویتنا م د قهرمانو خلکو دبری او دویتنام ترسو سیا لیستی رژیم لاندی دهغه هیواد دیووالی او دهغه په کارګری انترنا سیونالیستی اصولو باندی دو لاړ دریځ تو د هر کلی کوی .

دافغانستان د مو کراتیک جمهوریت د کوریا د خلکودمو کر اتیک جمهوریت دهغه هیواد دخلکو یوا ځنی رښتنی نماینده ګنی او د افغا نستا ن دمو کراتیک جمهوریت له تش په نامه جنوبی کوریا څخه خپله رسمی پیژندنه چی د داود دارتجاعی رژیم له خوا شوی وه بیرته واخیستله او هیله لری چی ژر ترژره بهرنی لښکری د کوریا له جنو بی سیمی څخه ووځی او د هغه بیا یووالی د کوریا دخلکود مو کراتیک جمهوریت له واقعبینانه پیښنها دونو سره سم ترسره شی .

دافغانستان دمو کراتیک جمهوریت دنړی له سوسیالیستی او مترقی هیوادو سره دوستانه اړیکی اوهمکاری لری. هغو د ټوستو سو سیا لیستی اومترقی هیوادوته چی دافغانستان دثور دبریالی انقلاب ملاتړ یی کړیدی اوخپلی همکاری یی دافغا نستا ن له د مو کرا تیک جمهو ری حکومت سره پرا خی کړیدی په خاص ډول کور ودانی وایم .

دافغانستان دمو کراتیک جمهوریت د خپل بهرنی استعمار ضدسیاست په نظر کی لرلو سره د خپل سرنوشت په ټاکلو کی دولسو نو اوخلکو دحق ټینګ ملا تړ کړی او دهغوی دملی خپلوا کی او سیا سی

حاکمیت پلوی کوی او د ملی ازادی بخښو نکو نهضتو نو ، کارګری مبارزو ،دموکراسی ،سولې ،آزادی اوټولینزی هوسایني دترلاسه کولو لپاره دنړی دمترقی خلکو هراړخیز ملاتړ کوی .

دافغانستان‌دموکراتیک‌جمهوریت‌دایتوپیا او انګولا دخلکو دمبارزو څخه چې دبین المللی امپریالیزم او ارتجاع د لاس وهنې په ضد یې دخپلو هیواد و دخاوری دپوره تمامیت‌دپاره کوی ټینګ ملاتړ کوی او دشوروی اتحاد اوکیوبا د بې الایشه او دوستانه رول‌او هغو مرستو ته چې د دغو هیوادو له قانونی حکومتونو سره یې دامپریالیزم او بین‌المللی ارتجاع دتیریو دشنړولو دپاره کوی‌په پوره‌تفاهم‌سره‌ډیر ښه هرکلی‌وایی.

دافغانستان دموکراتیک‌جمهوریت‌هیله لري چې‌ډیر ژر د زمبابوی جنوبی افریقا او نامیبیا مبارز خلك خپلو حقه حقوقو او ملی خپلواکیو ته ورسیږی .

افغانستان د لوړیزی صحرا د خلکو او د پولیسا ریو دازادی بخښونکی‌جبهی‌د سرنوشت دټاکلو دحق ملاتړ کوی اوهیله لری‌د دغی موضوع سوله‌ایزحل او فصل‌دافریقا د یووالی د موسسې په همکاری ترسره شی .

دافغانستان اوکیوباترمنځ دوستانه‌اړیکی ددوونا‌پیلو مترقی هیوادو په ځیر په‌زړه پوری پراختیا مومی او افغانستا ن ته ددغه دوست هیواد د بهرنیو چارو دوزیر مسافرت ددغی دوستی‌په لاتینګښت کی اغیزناک ؤ.

افغانستان په‌لاتینه‌امریکا کی دامپریالیزم‌دتسلطو نو ارتجاع ،فاشیستی دکتاتوری،استعماری لاس وهنې او ظالمانه‌استثمار په ضد د دغی سیمی دخلکو دمبارزو ټینګ‌ملاتړ کوی .اوپه دغو ملی دموکراتیکو او مترقی مبارزو کی دهغوی دبری غوښتونکی دی .

دافغانستان دموکراتیک جمهوریت دمنځنی ختیځ په بر خه کی په دی عقیده د ی چی داسرائیلو تیری کوونکی پوځونه دی دعربو له نیول شویو سیمو څخه ووځی او د فلسطین دمبا ر ز و خلکو حقوق د ی دیوه ملی او خپلواک فلسطینی دولت دجوړو لو په شمول تا سین شی ځکه چی دمنځنی ختیځ دلانجی دحل په خبرو کی چی په واقعیت کی په خپله د فلسطین دخلکو موضوع ده د فلسطین د ازادی بخښونکی موسسی له ګډون څخه پرته دحل لاره نشی موندل کیدای . او د نورو هیوادو په ځانګړ و او قسمی مفاهمو او موافقو نشی کیدای چی دفلسطین دمسا لی وروستی او پوره حل او دنړی په دی حساسه سیمه کی سو له منځ ته راشی .

دافغانستان د موکراتیک جمهو ریت غواړی چی نړیوالې لانجی دی له سوله ایزو لارو څخه، بی له زور زیاتی څخه پرته حل کړی شی . افغانستان ددیتانت دپروسی په کلکه ملاتړ کوی او دهغی د پراختیا او جهانی کیدلو غوښتونکی دی چی په دی برخه کی پوځی موضوع ګانی هم شاملی دی چی په یوه سیمه اویا یوه لویه و چه کی محدود پاتی نشی بلکی د نړی ټو لو ګوټونو او ټولو لویو وچو ته پراختیا و مومی .

دافغانستان دموکراتیک جمهوریت دملګرو ملتو دموسسی دمنشور او دبشر دحقو قو داعلامیی بشپړ ملاتړ کوی.

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت دبیلو بیلو سیاسی او ټولنیزو رژیمونو لرونکو هیواد و نو تر منځ دسوله ایز ګډ ژوند داصولو د تطبیق

کلك غوښتو نکی دی اوهغه دنړیوالو شخړو ، دلیری کو لو د دیتا نت دپراختیا او دنړی‌دسولی دتامین دپاره ډیر مهم عامل ګڼی.

افغانستان دخپل ناپیلی،فعال ،مستقل،ملی اومترقی‌سیاست له مخی دجګړی ،تیر یو اونظامی اشغال ،دوسله والو ګواښونو اوپه پوځی تیری- کوونکو ډلو ټپلو پوری دتړ ل کیدو د مفکورو کلك مخا لف دی‌او سړی جګړی ناندریو ته د زور ور کولو او دبین‌المللی‌لانجو دزیاتیدو او نړیوالی سو لی او امنیت ته په نیغه د خطر د پیدا کید و ستر عا مـــل ګڼی .

دافغانستان دمو کراتیك جمهوریت دنورو هیوادوپه ملی او مستقلو قلمروونو کی دبهرنیو تیری کوونکو پوځی اډو شته والی د د غو هیوادو دخاوری په‌تمامیت‌اوملی خپلوا کی باندی تیری ګڼی او دهغودسمدلاسه ایستلو او دجګړی دخطر او نړیوالی سولی ته د ګواښ‌دسر چینو د له‌منځه تللو غوښتونکی‌دی .

افغانستان‌دنړی‌دیوه پر مخ تلو نکی هیواد په‌توګه هیله لری چی د شتمنو او نیستمنو هیواد و نو ترمنځ دنیستمنو هیواد و د ګټو په‌نظر کی نیولو په‌اساس همکاری ،پراختیا ومومی .او د هغو هیواد و چی لږ پر مختګ یی کړی او په‌تیره بیا په‌وچه کی دپرتو هیوادونو اقتصادی او مالی ستونزوته دی زیاته پاملرنه وشی چی دغه هیوادونه‌و کړی شی دخپل اقتصادی او ټولنیز پرمختګ‌په‌لاره کی اغیزناک ګامونه‌واخلی .

نړی دستر واقتصادی ستونزو سره مخامخ ده او دنړی ترټولو زیات اقتصادی فشار په ورو سته پاتی او پرمخ تلونکو هیوادو نو باند ی را ځی .

په نړ یواله اقتصادی ساحه کی نه یوازی داچی ښه والی نه لیدل کیږی، بلکی هره ورځ په پخوانیو مشکلاتو باندی نور مشکلات هم ور ډیریږی اودنړی د شتمنو اونیستمنو هیوادونو ترمنځ واټن لا پسی پراخیږ ی .

دنړی ددغو ټولو اقتصادی ستونزو او پرابلمونو یو مهم عامل دنننی نړی د اقتصادی غیر عادلانه نظم موجودیت دی چی زیاتره د نړ ی داستعماری اواستثماری قدرتونو په ګټو و لاړ دی او دیوی ډلی استثمارګرو پانګوا لو پرمخ تللیو هیو ادو ګټ ی تضمینوی چی د غه هیوادو نه د خپلو استثماری ګټو دلاس ته راوړلو دپاره د نیستمنو او پر مخ تلو نکو هیوادو طبیعی شتمنی په بیرحمانه اوغیر عا د لا نه تو ګه لوټوی خو لاتر او سه پوری دنړی نوی اقتصادی نظم چی دنړ ی ټول په عدالت مین هیوادونه اوهمدغه راز پرمخ تلو نکی او استثما رشوی هیوادونه دهغه دمنځ ته را ویسلو غوښتو نکی دی منځ ته ندی راغلی و لی چـــی امپریالیستی او پانګوال هیوادونه چی ددغه رازنوی اوعادلانه اقتصادی نظم په منځ ته را تلو سره خپلی ګټی په خطر کی وینی ورسره مخا لفت کوی. نودافغانستان دمو کراتیک جمهوریت هیله من دی چی ډیر ژرد دغه زاړه اواستثما ری نظم ځای نوی عادلانه اقتصادی نظم و نیسی چی پـه

زړه پوری تو کړه په نړۍ یواله او بین المللی ساحه کی عدالت، همکاری او سوله تامین شی .

گرانه ملگریه !

دغه دوستانه سفر ما ته موقع را کړه چی د هغو مهمو اوخلاندو پرمختگونو د یوی برخی نتیجی له نژدی څخه وگورم چی زما دگران ملگری او د دغه دوست هیواد دنورو درندو مشرانو په مدبرانه لارښوونو او د شوروی اتحاد د ویاړلی او مبارز کمونیست گوند په مشرتابه اوستاسو د نجیبو اوقهرمانو خلکو دفعا لیتونو له امله دشوروی سوسیالیستی اتحاد جمهوریتونو ته د سوسیالیستی پرمخ تللی ټولنی په جوړښت کی ورپه برخه شویدی.

پدی باندی ډیر خوشحاله یم او تاسو ته دلاډیر و بریو هیله کوم او پخه عقیده لرم چی ستاسو د دوست هیواد افغانستان ټول خلك په دغسی خوښی او هیله کی راسره شریك دی.

یوځل بیا دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد له هغو دوستانه سرستو او همکاریو له امله چی دثور ترستر انقلابه وروسته اوتر هغه پخوا یی له افغانستان سره د اقتصادی، کلتوری او تخنیکی ودی په لار کی کړیدی د زړه له کومی کور ودانی وایم .

یوځل بیا هم له خپلی خواو د خپلو ملگرو له خوا د شوروی اتحاد د قهرمانو خلکو او د دغه دوست هیوا د د حکومتی او دولتی مقاما تو د مهربانیو اوډیر تاوده هرکلی څخه خپله د زړه له کومی مننه څرگندوم .

له‌ملګر و ،دوستانو اودرنو حاضر یئو څخه‌دوستانه هیله کوم چې‌خپل دشریت جامونه له‌ماسره په‌دغو هیلو کې د ګډون په خاطر یوځای‌پورته کړی

–دشوروی اتحاد دویاړلی کمونیست ګوند دمرکزی کمیتې دعمومی منشی او دشوروی‌سوسیالیستی جما هیرو داتحاددعالی شورا درئیسه هیات دصدر ملګری بریژنف‌په روغتیا اوسلامتیا،دشوروی اتحاد دوزیرانو دشورا درئیس ملګری کاسیګین په روغتیا اوسلامتی .

دافغانستان‌دخلکو ددموکراتیک ګوند اودشوروی‌اتحاددکمونیست ګوند دهمکاریو په‌پراختیا .

–د افغانستان او شوروی اتحاد د دوستانه اړیکو په لا تینګښت .

–په‌نړۍ کې‌دسولې،دموکراسۍ‌اوټولنیزې‌هوساینې دتامین‌په هیله.

د شوروی سوسیالیستي جمهوریتونو د اتحاد د
کمونیست ګوند د مرکزي کمیتې د عمومي منشي
او د عالي شورا د رئیسه هیئت د صدر لیونید
برېژنف د وینا متن په هغې میلمستیا کې چې د غه
جلالتمآب لخواد قوس په ۱۴ مآ بنام
د افغانستان د خلکو د دموکراتیک ګوند د مرکزي
کمیتې د عمومي منشي د افغانستان د دموکراتیک
جمهوریت د انقلابي شورا د رئیس او صدر اعظم
نور محمد تره کی په ویاړ د کریملین په
ماڼۍ کې شوی وه ۰

محترم ملګری تره کی!

افغانی درنو میلمنو!

ملګرو!

زه دافغانستان دډموکراتیک جمهوریت درنو میلمنو ته په صمیمیت سره دزړه له کومې ښه راغلاست وایم خوښ یم له دی امله چې ددغه دوست هیواد سترمشر ملګری تره کی او ملګری امین اونور غوړه مشران او دهیات نور محترم غړی چې زموږ هیواد ته راغلی دی وینم.

شوروی اتحاداوافغانستان نیک ګاونډیان دی. دایوه عنعنه ده زموږ ترمنځ د دوستانه او برابر ومناسباتو بنسټ شپیته کاله مخکې دستر لینن لخوا کیښود ل شو.

د وخت تیریدنی معتقدانه وښو دله چې څرنګه دغه مناسبات د دواړو هیوادو په ګټه دي .وروسته بیاد۱۳۵۷ کال‌دثور میاشت‌راغله. د افغانستان اصیل خلقی انقلاب د لرغونی افغانستان په‌تا ر یخ کی ناڅاپی بدلو ن راووست .

دحیرانتیاخبره‌نده‌چې په‌دغو شرایطو کی زمونږ د دواړو هیوادو ترمنځ ښواړیکو یو نوی کیفی خصوصیت غوره کړیدی. اوس ددواړو هیوادو ترمنځ یوازی ښه ګاونډیتوب په منځ کی ندی بلکی یوی همیشنی‌په زړه‌پوری او ژوری دوستی دغه دملګر تیا او انقلا بی یووالی روحیه پیاور ی کړیده .

داټول تمایلو نه ددوستی — ښه ګاونډیتوب او همکاری په هغــه ټرو ن کی‌چې نن لاس لیکشو څرګندیږی .

په باور سره ویلی شو چې دغه ټرون یو مهم ســیاسی سنددی چې نه‌یوازی‌دشوروی‌او افغانستان‌ددوستی‌دلاپیاوړ تیا لپاره یوښښت‌ږدی،بلکی په‌آسیا کی او له‌دی اسله‌به په‌ټوله‌نړی کی دسولی او امنیت په ګټه‌وی.

دشوروی خلك په‌زیاتی قدردانی سره د افغانستان‌دانقلاب لومړی ګامونه چې دخلاقه کارونو دسرته رسولو لپاره او چټشوی تعقیبوی. مونږ له‌تاسو سره ځپله دوروری یووالی څرګندو و .

مونږ دثور دانقلاب دهدفونو او وظیفو په‌ترسره کولو کی‌دافغانستان دخلکو ددموکراتیک ګوند دحکوست‌او خلکودزړه له کومی بریالیتوبو نه غواړو .

دبهرنی سیاست هغه کړنلاره چې دافغانستان لخواتعقیبیږی دسولی، ناپیلتوب ،برابری پرمختیااوله ټولو هیوادونو سره د ګټورو متقابله‌اړیکو،

او د مهمو مسئلو دسولهایزه حل سیاست، د شوروی اتحاد دژور احترام وړ ګرځی.

زمونږ افغانی ملګری بیله شکه په هغو ستروکو ښښو نو پوره خبردی چې دشوروي اتحاد لخوادبین المللی سولی اوامنیت دټینګښت په ګټــه ترسره شویدی.

مونږ باور لرو په اوسنیو شرایطو کی یواځینی مهم شی چی بایداجازه ورنکړی شی یوه نوی جهانی جګړه ده کهچیری دغه جګړه دنړی په کوم ګوټ کی پیل شی د ټول بشریت دپاره به خطرناک مصیبت وی لــه همدی امله دی چې شوروی اتحاد او د سوسیالیستی ټولنی نور هیوادونه تل د وسلهوالی سیالی دمحدود ولو اود کمولو او پوره بی وسلی کولو په لټه کی شویدی مونږ یوازی دسوله ایزو اړ تیاو و لپاره دټولو رویلونو، ډالرونو، زولوتونو، سارکونو، لیزونو اوفرانکونوطرفداریوخودحل یوه لاره یوازی دبالمثله سلوک پهښست پیدا کیدلی شی.

دشوروی اتحاداودنورو ورونو هیوادودغه واقعبینانه دریځ په مسکو کی دوارسا دټرون دسیاسی مشورتی جرګه کی دغونډی په وروستیو پریکړو کی منعکس شویدی.

البته کهچیری سوسیالیستی هیواد ونو په یواړخیزه توګه پهبی وسلی کولو لاس پوری کړیوای، کههغوی دامپریالیستی قواو و د لوړ ګټلو لاسته ورورلو ته اجازه ورکوله چې دامپریالیستی هیوادونو کلکه ارزو ده دغه چلند پهسولی ته ناروا خدمتوای .

بیا وایم مونږ تیار یوچې دبیوسلی کولو په لورستر ګامونه پورتــه کړو خو دارخونو دمتوازن امنیت پرنسیپ دغه هدفتهدرسیدولپارهباید

دمبارزی په ټولو پراوونو کی مراعات شی مور به دامپریالیزم دورځ پـــه ورځ زیاتیدونکی پوځی قدرت په‌وړاندی دخپلی دفاع له کمزوری‌سره موافقه ونکړو .

فرق نه کوی چی دامپریالیزم دغه‌ناری‌په‌څه‌عوام غولوونکو دلیلونو سره‌پتی‌دی.دغه کاربه دسوسیالیزم ددا عیی او دخلکو دآزادی اودهغوی دخپلواکی لپاره نه‌جبران کیدونکی عواقب منځ ته راوړی.

دشوروی اتحاد دریځ ،دبین‌المللی دیتانت دژورتیا او پراخوالی او دغه‌راز زمور په‌سیاری کی‌له وګړو څخه ډ کی وچی ته‌چی آسیا ده دهغو پراخیدل دی .

ز مور دا‌ډه‌یوچی د افغانستان‌دمو کراتیک‌جمهوریت‌به‌هم دغو هدفونو ته درسیدولپاره په‌زړه پوری برخه‌واخلی .

ګرانو افغانی ملګرو!

زمور د کتنو او خبروپه‌نتیجه کی نه‌یوازی زمور ترمنځ شخصی او د ملګرتیا یوشه تماس پیداشوی‌بلکی د مهمو بین‌المللی مسا لو او د خپلو ګونـد و نو او خلکو ترمنځ په دوه اړخیزو اړیکو کی چی د منقا بل ژورخا لصانه تفاهم دبنسټ له‌مخی‌دی‌ګډ بر داشت لرو.

داټول ددی‌دلیل کیدای شی‌چی ووایو ستاسو ملګری تره کی سفربه دشوروی‌اتحاداو افغانستان ددوستانه‌اړیکو او همکاری‌او شه ګاونډیتوب په پرمختیا کی یومهم شاخص‌وی.

پیشنهاد کوم‌چی‌زمور دهیوادونو اوخلکو ترمنځ ددوستی دلاتینګښت په‌خاطر ،دملګری تره کی دروغتیا په‌خاطر ، دټولو افغانی‌میلمنو په‌سلامتیا خپل جامونه پورته کړی .

زمونږ دستر لارښود دهغې وینا متن چې د مسکو
د راډیو تلویزیون له لارې خپره شوه .

کرانو ملګرو !

خوږو دوستانو !

دشوروی اتحادمیړنیو خلکو !

زما لپاره د ډیری خوشحالی ځای دی چې د افغانستان د خلکود ثورله انقلاب څخه وروسته فرصت مومم چې په ټوله نړۍ کې لومړی خپل ورور هیواد شوروی اتحاد ته سفر کوم اودا موقع پیدا کوم چې د مسکو دد رانده او ښکلی ښار د تلویزیون د دستګاه له لاری تاسوته خپلی او د خپلو زیارایستونکو خلکو د زړو مینه ، دورور ګلوی ژور احساسات ښکاره کوم.

ویاړم په‌دغه فرصت کی‌چی‌تاسو دسرپه سترګوماوینی اوژه په‌زړه کی له تاسو سره دو رور ګلوی خو اله کوم خپل او دخپلو زړ و رو خلکو تاوده‌اودورور ګلوی‌سلام تاسوته او ستاسوپه‌واسطه دشوروی اتحاد ټولو قهرمانو خلکوته رسوم .

دافغانستان زیار ایستونکی‌خلك‌دشوروی اتحادله‌میړنیو خلکو سره کلکه او ژوره مینه لری . زمونږ خلکوپه ډیره‌مینه،مینه‌دا کتو بر دستر انقلاب یوشپیتمه کالیزه‌و لمانځله او په‌هغی خوشحالی کی‌یی په ډیر ویاړ برخه واخسته چی‌د شوروی اتحاد پیاوړ و خلکو په‌پوره‌استحقاق‌سره ددغه ستر سوسیالیستی‌انقلاب دخاطر اتو په‌لمانځلو کی لرله.

زمونږ زیار ایستونکی‌خلك‌په‌هغوبریالیتوبونو باندی‌ډ یر خوشحاله دی چی دژوندپه‌لاره‌موده کی زمونږ دشوروی وروڼوخلکو په برخه شوی دی چی نه‌یوازی‌دشوروی اتحاد بلکی‌دنړی دټولو زیا ر ایستو نکو خلکو ګټی په کی پرتی دی .

دافغانستان‌زیار ایستونکی خلك پوهیږی چی‌دشوروی‌اتحادله‌خلکو سره ددوی دوستی‌شپیته کلنه‌شوه‌او داسی‌دوستی‌ده‌چی‌دبشرپه تار یخ کی له‌اړو دورو او ژورو ازمایښتونو څخه بریا لی راوتلی او ددواړو خواو وپه خوښه او مینه یی‌داسی تکامل کړی دی چی په‌ټوله‌نړی کی د ګا ونډیو هیوادو نو له پاره دویاړه ډ ك ښه‌مثال ګر ځیدلی دی . دافغانستان خلك‌پوهیږی چی دشوروی اتحاد له‌خلکوسره د دوی زړونه یودبل له‌مینی ډ ك دی زه او زما دسفر ملګری دغه حقایق دخپل سفر په اوږدو کی په خرګند ډول احساسوو.

دافغانستان اوشوروی اتحاد د خلکو دوستی په هغو حقایقو کی ریښی لری چی دوی دواړه خلك د امپریالیستی استعمار په ضد جنګیدلی د ی او عمل ښودلی چی د دوی د دوستان ګډ او دښمنان ګډ او یوشان دی . او د دغی دوستی بنسټ هغه وخت کیښودل شوچی نړی شوریدله .

امپریالیزم زنګیده او په ټوله نړی کی زیارایستونکی په غوږ ځنګ کی وو دا ځکه چه میړنی روسیه کی د نړی د ټولو زیارایستونکو د زړه سواند ی او ستر لارښود ولادیمیر ایلیچ لینن په مشری د اکتوبر ستر انقلاب سرتـــه رسیدلی ؤ . په نړی کی د لومړی ځل لپاره د شوروی اتحاد په پراخه خاوره کی د پرولتاریا د کتاتو ری ټینګه شوی و ه او په افغا نستا ن کی هـــم زمور میړنی اوباتور خلك غلی کښینناستل او د بریتانیا په امپریالیستی امپریالیزم باندی یی داسی ګوزار و کړ چی په اسیا کی یی ترټولو لو مړی د بر یتانیا داستعمار کړی بیاماته کړه او خپله خپلوا کی یی بیرته تری واخیستله .

دافغانستان اوشوروی اتحاد د خلکو ترمنځ ریښتینی دوستی هغه وخت پیل شوه چی زمور خلکو تر ټولو لږ مبی دستر لینن په مشری د شورو ی اتحاد کارګری دولت په رسمیت و پیژانده او د نړی د کا رګرانو ویا ړلـــی شر ولادیمیر ایلیچ لینن په مشری شورو ی اتحاد په نړ ی کی له هرڅا ړومبی دافغانستان خپلوا کی په رسمیت وپیژندله او دافغانستان د پرمختګ له پاره یی د پراخه مرستو دور کولو لپاره د شوروی اتحاد د خلکو تیاری ښکاره کړ .

ستر لینن دافغانستان له خلکو سره ژوره مینه درلوده له او دافغانستا ن د خپلوا کی ګټل یی په درانده نظر سره وستا یل . د نړی د کارګرانو پتمن

او خواړه رهبر داسی هیله ښکاره کړه چی افغا نستان به داستعمار په ضد دټولو مسلمانو خلکو د خپلوا کی غوښتلو په خاطر مبارزو کی د محور رول ولری سترلینن داسی هیله هم ښکاره کړی وه چی دافغانستان خلک هم دشوروی خلکو پەشان له هر ډول استثمار څخه دخلاصون په لو ر سترګامونه واخلی.

دافغانستان او شوروی اتحاددخلکو دو ستی چی دا کتوبر دستر سوسیالیستی انقلاب په بریالیتوب او دافغانستان د خپلوا کی د ګټلو په واسطه شروع شو ی و ه دادی دثو ر د ستر خلقی انقلاب له اهد افو سره سمه داسی وده کوی چی ددواړو خلکو تر منځ ټینګه ورور ګلوی یی د نړی خلکوته دنوی مثال پەتوګه وړاند ی کړی ده.

داچی دا کتوبرسترسوسیالیستی انقلاب دنړی زیار ایستونکوخلکو ته دملی ازا دی د ګټلو او د نړی ټولو کار ګرانو ته د خپلی د کتاتوری دټینګولوپه هکله اطمینان اواعتماد پیدا کړدافغانستان دثورخلقی انقلاب هم دمخ پەودی هیوادو ټولو زیار ایستونکو خلکوتەداسی الهام ورکړ چی د وی هم کولای شی دافغا نستان دخلکو پەشان خلقی انقلا بونه سرته ورسوی او لەمتخاصمو طبقو څخه پا کی ټولنی تەدرسیدلو لپاره لاره پیدا کړی.

دافغانستان زیار ایستونکی خلك ویاړی چی شوروی یوازی داسی هیوادنه و و چی د بریتانیا د امپریالیزم پەضد یی زمور د بریالی قیام په تعقیب زمور ازادی پەنړی کی تر ټولو لومړی وپیژندله او ددوستی لاس یی رااوږد کړی .دادی زمور دثور دپر تمین خلقی انقلاب په بریالیتوب پسی پەنړی کی لومړی هیواد و چی دافغانستان د مو کراتیك جمهوریت

یی په رسمیت و پیژانده او دورور ګلوی دمرستو لاس یی را کړ او هر ډول مادی او معنوی مرسته راسره کوی .

زمور خلك پدی پوهیږی چی دا کتوبرسترسوسیالیستی انقلاب دشوروی اتحاد د کمونیست ګوند دسترلینن دویاړلی ګوند دمیړنیو بلشویکانو په رهبری بر یا لی سرته و رسید او د افغا نستا ن له خلکو څخه یی په داسی حال کی ملاتړ کاوه چی هلته دزیار ایستونکو ګوندځه چی کوم عادی سیاسی ګوند هم وجودنه درلوداونه دآزادی قیام د کوم ګوندله خوا رهبری کیده. خو د ثور خلقی انقلاب په افغانستان کی دداسی کارګری ګوند چی د کارګر ی طبقی په علمی اید یا لو ژ ی مجهز و د ا فغا نستا ن د خلکو دمو کراتیك ګوند (د هیواد د کارګری طبقی مخکښ) په رهبری بریالی شو .

دثور انقلاب داسی انقلاب و چی په افغا نستا ن کی یی داستثمار کوونکو تسلط بیخی پای ته ورساوه ا و د کارګر ی طبقی قدرت یی تینګ کړ . د ثور له انقلاب سره سم افغانستان دتل لپاره دامپریا لیزم له ساحی څخه ووت او داستثمار کوونکو نظا مونو له څنګ څخه د تل لپاره لری شواو په خلقی سا حه کی یی د کارګری نظامونو په څنګ کی په پو ره ورور ګلوی ځای ونیو.

دثور دپرتمین انقلاب له اهدافو سره سم دافغانستان دمو کراتیك جمهوریت دافغانستان د خلکو د دمو کر ا تیك ګو ند مرام د کارګری طبقی ددوران جوړوو نکی ایدیالوژی په رڼا کی له شو روی اتحادسره پوره ورته سیاست تعقیبوي .شوروی اتحاد د هغه افتخار له املە چی دستر لینن په رهبر ی یی په نړۍ کی دلومړی ځل لپاره دسو لی بیرغ پو ر ته کړ دا دی دګران او ستر ملګری لیونید بریژنف د شوروی اتحاد د کمو نیست

ګوند دمرکزی کمیټی دعمومی منشی او دشوروی اتحاد د عالی‌شورا درئیسه هیأت‌دصدر په رهبری په نړی کی لهسولی څخه ددفاع پوره ابتکار او لوړ بیرغ پهلاس کی لری.

دافغانستان‌دموکراتیک‌جمهوریت‌له‌ناپیلتوب‌سره‌د صادق‌علاقمند په‌توګه د شوروی اتحاد دسولی ابتکار اتو او پالیسی‌ته‌ژور احترام‌لری .

افغانستان‌او شوروی اتحاددنړ یوال انقلابی نهضت‌دغړو په توګه دامپریالیزم ، ضدداستعمار ضد ،دنوی استعمار ضد، دصهیونیزم ضد،د نژاد پالنی ضد اواپار تا ید ضد پالیسی لری .

افغانستان او شوروی‌اتحاد داسیا،افریقااولاتینی‌امریکادخلکو له سلی ازادی غوښتونکو نهضتونو څخه‌په کلکه ملاتړ کوی .دانګولا او ایتوپیا پهخاورو باندی د امپریالیزم دګوډاګیانو تیری په کلکه غندی او هر ډول مرسته چی دا نګولا اوا یتوپیا له خلکو سره دخپلو خاورو د ساتنی لپاره پهمبارزه کی کیږی په مینه ستایو . دچیلی پهخلکو باندی دپنوچت فاشیستی رژیم‌چی‌دامپریالیزم‌لاس‌پوخی دی په کلکه‌محکوموی او په منځی ختیځ کی دصهیونیزم په ضد دی او هرډول قسمی حل او مفاهمه ردوی .عقیده لری چی د کمپ دیوید په شان مذاکری دمنځنی ختیځ پرابلم نشی‌حل کولای .ددغه مشکل حل په هرډول‌مذاکرو کی د فلسطین دآزادی مؤسسی داستازو ګډون حتمی بولی.

افغانستان‌او شوروی‌اتحاددنوروهیوادوپهخاورو کی دنظامی‌اډی جوړول په کلکه غندی دقهرمانی کیو با پهضد د امپریالیزم هر ډول دسیسه محکوموی. د قهرمان سوسیالیستی ویتنام ټولو بریالیتوبونو اوپه

پرولتری انترناسیونالیزم کی دهغه داصولی دریځ په مینه، مینه ستاینه کوی.

دافغانستان دموکراتیک جمهوریت دخپل ګران هیواد افغانستان په ودانولو کی دشوروی اتحاد له تجربو څخه ډیره استفاده کوی چی د هیواد د ودی په خاطر پنځه کلن اقتصادی پلانونو لاندی لری او له خپل کارګری ماهیت سره سم پلان شوی اقتصاد تعقیبوی ترڅو د داسی تولنی دجوړولو په لور چټک لاړ شی چی هلته دفرد په واسطه دفرد استثمار وجود ونلری.

دافغانستان زیار ایستونکی خلك په ډیرویاړ سره داحقیقت احساسوی چی زموږ په پنځه کلن پلان کی زموږ شوروی ورونه مرسته راسره کوی چی زر وکړای شو هغه ویجاړ اقتصاد چی دنادر — داود خائنی کورنی او د امپر یا لیزم له ګودا ګیانو څخه راپاتی دی سمبال کړو او د خپلو زیار ایستونکو خلکو د متو په زور او دخپلو خورو شوروی ورونو په مرسته خپل هیواد داسی اباد کړو چی زموږ د ګران ورور شوروی خلك یې آرزو لری او په لیدلو یی خوشحالیږی.

دافغانستان زیار ایستونکی خلك په دی ویاړ ی چی دافغانستان د خلکو دموکراتیك ګوند او د شوروی اتحاد د کمونیست ګوند تر منځ په برابر و حقوقو او یوشان دریځونو ددوستی او ورورګلوی اړیکی ټینګیږی او د افغانستان ددموکراتیك جمهوریت او شوروی اتحاد ترمنځ ددوستی ترونونه ترسره کیږی چی دوستان موپه خوشحالی خندوی اودښمن مو په ویر کی ژړوی .

دافغانستان زیار ایستونکی خلك په دی دزړه له کومی او په پراخه احساساتو خوشحالی احساسوی چی زموږ دګران ورور شوروی اتحاد خلك

په‌نیکمرغی او خوشحالی ژوند کوی .سوسیالیستی ټولنه یی‌جوړه کړی ده او د کمونیستی ټولنی په‌جوړلو یی پیل کړی‌دی .

دد غو ټولو بریالیتوبونو په‌خاطر خپل ګران ملګری لیوند بریژنف دشو روی اتحاد د کمونیست ګوند عمومی منشی اودشوروی‌اتحاد دعا لی شورا درئیسه هیات صدر دشوروی اتحاد پیاوړی‌مبارز کمونیست ګوند او دشوروی‌اتحادمیړنیواو قهرمانو خلکو ته‌دخان له خوا دافغا نستان دخلکو دمو کراتیک ګونددمر کزی کمیټی اوغړو له‌خوا ،دافغانستان‌دمو کراتیک جمهور یت له خوا او دافغانستان دزیار ایستونکوله خوا دزړه له کومی او دزړه په‌مینه مبارکی وایم اولا ډیر او ډیر بر یالیتوبونه موغواړم‌چی دوستان مولاډیر وخندوی او دښمنان مولاډیر وژړوی .

—تل اورونډی‌وی‌دافغانستان او شوروی‌اتحاددخلکو دورور ګلوی‌یووالی.

— بریالی‌دی وی سوله،دمو کراسی اواجتماعی ترقی.

دافغانستان دډموکراتیک جمهوریت او شوروی
سوسیالیستی جمهوریتونو اتحاد ترمنځ دوستی
ښه ګاونډیتوب او همکاری ټرون

زمونږ ستر ښوونکی دافغانستان‌دخلکود دموکراتیک گوند دمرکـزی کمیټی عمومی منشی اودافغانستان‌ددموکراتیک جمهوریت دانقـلابـــی شورا رئیس او صدر اعظم نورمحمدتره‌کی اود شوروی سو سیا لیستی جمهوریتونو د اتحاد د کمـو نیست‌گوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی اودعالی شورا درئیسه هیات صدر لیونید بریژنف دقوس په ۱٤ورځ له‌غرمی ورو سته ددواړو هیوادوترمنځ ددوستی- ښه گاونډ یتوب او همکاری تړون لاسلیک کړ.

دتړون دلاسلیک پەوخت‌کی‌زمونږدگران او انقلابی لار ښود ملگـری هیات اودشوروی اتحاد مشران هم‌حاضر وو .

د افغا نستان دمو کر اتیک جمهوریت او د شور وی سوسیا لیستی جمهور یتو نواتحاددافغانستان‌او شو ر وی‌اتحادتر منځ په ۱۹۲۱ کا ل کی

دټرون او په ۱۹۳۱ کال کی دټرون هدفونو او اصولو ته دوفاداری په تاکید سره چې دافغانی او شوروی خلکو ترمنځ یې ددوستی دا ړیکو او ښه ګاونډیتوب بنسټ ایښی او ددوی ملی حیاتی ګټې پکی دی او ددوا ړو هیوادونو دهر اړخیزی دوستی او همکاری دلاتینګیدو په هیله دافغانستان او شوروی خلکو دټولنیز او اقتصادی ګټو په پرمختیا باندی دټینګ عزم په ځرګندولو سره او دهغوی دامنیت او خپلواکی په ساتلو او دهغوټولو قوتونو دپوره پیوستون په غوښه طرفداری چې دسولی او ملی خپلواکی او دموکراسی او ټولنیز پرمختګ په لاره کی مجادله کوی او په اسیا او ټوله نړۍ کی دسولی او امنیت دپیاوړتیا له مرستی سره دټینګ عزم په ځرګندولو او دهیوادونو ترمنځ داړیکو په پرمختیا کی دبرخی اخیستلو او په اسیا کی داغیزمنی متقابلی اوګټوری همکاری په ټینګښت او دخپلو حقوقی اړیکو دستنو پیاوړی کولو ته دپوره ارزښت په قایلید لو سره او د ملګرو ملتو د منشور هدفونو او اصولو ته د وفاداری په بیاتینګار سره و پټیله چې د دوستی ، ښه ګاونډیتوب او د همکاری ټرون لاس لیک او د لاندنیو مراتبو په باب یې موافقه وکړه .

لومړی ماده :

دواړه ژمنه کوونکی لوړی خو او ی ددواړو هیوادونو ترمنځ دخلل نه منونکی دوستی دټینګښت او ژورتیا او د برا برو حقوقو ، دملی حاکمیت او دخاوری دتمامیت حق ته داحترام اویو دبل په کورنیو چارو کی دلاس نه وهلو په بنسټ دهر اړخیزی همکاری دپراخولو په باب خپل ټینګ عزم ځرګندوی .

دویمه ماده :

دو اړه ژمنه کو و نکی لو ړی خو اوی **به په خپلو** کی ددو اړ وخو اوو تر منځ داقتصادی، علمی او تخنیکی ګټو ری **متقابلی همکاری** د پیاو ړ تیا او پر اختیا په خاطر کو ښښ و کړی . ددغه مقصد دپا ره دوی دصنایعو تر انسپو رت اومخابر اتو اود کر نی او له طبیعی منابعو څخه دګټی اخیستلو او دا نر ژی دتو لید د صنا یعو د پر مختیا په سا حه او نو ر و ا قتصا دی ساحو کی همکاری پر اخه او ژ و ر ه کړی او دملی کدر دزده کړی په بر خه او دملی ا قتصا د د پر مختیا دپلا ن جو ړ و لو په ساحه کی به همکاری و کړی .

دو اړه خو اوی به سو داګری ته دبر ابر و او متقا بله ګټو او د کاملةالو داد داصو لو په بنسټ پر اختیا و ر کړی.

دریمه ماده:

دو اړه ژ منه کو و نکی لو ړی خو اوی به دعلو مو ،فر هنګ، هنر ادبیاتو ،پو هنی، ر و غتیا یی خدمتو نو او مطبو عاتو ،ر ادیو ،تلویز یو ن سینما، ګر ځندوی، و ر ز ش او نو ر و ساحو کی دهمکاری او دتجربودرا کړی و ر کړی له پر مختیاسره مر سته و کړ ی .

دو اړه خو اوی به ددو اړ وهیوادنودخلکودژ وندله کاراو تجر بو او ار ز ښتو نو سره دژ و ری بلدتیا په مقصد دحکومتی ار ګانو نو او ټولنیزو سـا زمانو نو او دصنعتی، کلتو ری ا و علمی مؤ سسو او تصد یو تر منځ دهمکاری له پر اختیا سر ه مر سته و کړی .

خلورمه ماده :

دو اړه ژ منه کو ونکی لو ړی خواوی به ددوستی اوښه ګاو نه یتو ب دعنعناتو او دملګر وملتودمنشو ر در و حیی له مخی مشوره اوددواړ و خواوو په موافقه به ددواړ وهیو ادو دامنیت او خپلو اکی او دخاو ری دتمامیت د تأمین په مقصد مر بو ط اقدامو نه سر ته و رسوی.

دوی به ددو اړ و ژ منه کو و نکو لو ړ و خو او و ددفاعی قدرت دپیاوړتیا په ګټه دسر بو طوسو افقه لیکو نو له مخی په پو ځی بر خه کی خپله همکاری پر اخه کړی.

پینځمه ماده :

دافغانستان دمو کراتیک جمهور یت له ټو لوهیو ادو نواو خلکو سر ه ددو ستی او همکار ی ټینګښت ته په پاملر نی سر ه دشو ر وی سو سیالیستی جمهو ر یتو نو داتحاد دسو لی سیاست محترم ګڼی .

دشور وی سو سیالیستی جمهور یتو نواتحاد دافغانستان د دمو کراتیک جمهو ر یت دنا پیلتو ب سیاست چی دبین المللی سو لی او امنیت دساتنی مهم عامل دی محترم ګڼی.

شپږمه ماده :

هر ژ منه کو و نکی لو ړ لو ری په رسمی تو ګه اعلاموی چی په پو ځی تړ و نو نو یانو ر و تړ و نو نو کی به ګډو ن و نکړی او دهیو ادو نو په ډلو او یا په هغو عملیاتو یا اقداماتو کی چی دبل ژ منه کو و نکی لو ړ لو ر ی پر ضدوی ګډو ن و نکړی.

اوومه ماده :

دوا ړه ژ منه کو ونکی لو ړی خو اوی به په ر اتلو نکی وخت کی هم دبین المللی سولی او دملتونو دامنیت او دبین المللی کړ کیچ د کمښت د جر یان دژ و ر و الی او داسیا په ګډون د نړی تو لو سیمو ته د هغه د پر اختیا او د دو لتو نو تر منځ د ګټو ر و همکا ر یو په مشخصو لا ر و چا ر و کی د هغه د تعمیل او له سو له ایزی لاری څخه داختلاف و ړ سا لو د حل په لا ره کی له هیڅ ډو ل کو ښښ څخه ډډه و نکړی .

دوا ړه خو اوی به تربین المللی ګټو ری څار نی لاندی داټو مې و سلی د له منځه وړ لو په شمول په پوره بی و سلی کو لو کی په فعاله توګه مرسته و کړی.

اتمه ماده :

دوا ړه ژمنه کوونکی لوړی خواوی به داسیا د هیوادونو ترمنځ د همکاری په پر مختیا او په اسیا کی د سو لی او ګاو نډیتو ب دا ړ یکو په ټینګښت او د امنیت د ګټو ر سیستم په منځ ته ر او ړ لو کی د متقابل باو ر او ددی و چی د ټو لو دو لتو نو د ګډی هڅی په اساس مر سته و کړی.

نهمه ماده :

دو ا ړه ژ منه کو ونکی لوړی خواوی به د تیری کوونکو قو تونو د د سیسو په ضد او په هر ډو ل او هره بنه چی وی د استعمار او نژاد پالنی په بیخی له منځه و ړ لو کی پر له پسی مبار زی ته دوام و ر کړی.

دو ا ړه خواوی به د خپلوا کی او استقلال او د حا کمیت د حق او ټو لنیز پر مختګ په لا ره کی د خلکو د عادلانه مبار زی په ملاتړ کی یو له بل او نو ر و سو له دوستو هیوادو نو سره همکاری و کړی .

لسمه ماده:

دو اړه ژ منه کوو نکی لو ړی خو اوی به ددواړ وخواووپه گټه دټولو مهمو بین المللی مو ضوع گانو په باب یو له بل سره سلامشو ره و کړی.

یولسمه ماده:

دو اړه ژ منه کو و نکی لو ړی خو اوی څر گندوی چی د بین المللی او سنیو تړ و نو نو په نسبت د هغوی ژ منی د دغه تړ و ن له مندر جاتو سره تناقض نه لری او و عده کوی چی له دغه تړ ون سره کو م متناقض بین المللی مو افقه لیك لاس لیك نکړی.

دولسمه ماده:

هغه مسالی چی د دو اړ و ژمنه کو و نکولو ړ وخواو و ترمنځ د د غه تړون د کو می مادی د تعبیر او یا تطبیق په باب پیداشی په دو ه اړ خیزه تو گه او د دو ستی او ښه تفاهم او د متقابل احترام په ړ و حیی سره به حل شی.

دیارلسمه ماده:

دغه تړون به د هغه د انفاذ له ورځی څخه د شلو کلونو لپاره د اعتبار و ړ وی .

که چیری د دو اړ و ژ منه کو و نکو لو ړ و خواوو څخه یوه یی د دغی مو دی له تیر یدو شپږ میاشتی مخکی د تړ و ن د اعتبار د له منځه و ړ لوهیله څر گنده نکړی د غه تړ و ن به د نو ر و هر و پنځو کلونو د پاره اعتبار و لری او په دی پو ل تر هغه و خته چی د د وا ړ و ژ منه کو و نکو لو ړ و خو او و څخه یو ه یی د ر و انی پنځه کلنی مو دی له تیر یدو څخه شپږ میاشتی مخکی د هغه د اعتبار د له منځه و ړ لو د هیلی په باب لیکلی یادو نه و نکړی.

څوارلسمه ماده:

که‌چیری‌ددو اړو ژمنه کوونکو لوړوخو او وځخه‌یوه یی دهغه‌د انفاذ دشلو کلونو په موده کی ددغی مودی‌له‌پوره کیدو څخه‌مخکی ددغه تړون داعتبار دله‌منځه وړلو هیله‌ولری‌دهغه دله‌منځه‌وړلو له نیټی څخه شپږ میاشتی مخکی دی‌دژمنه کوونکو بل‌لوړلوری ته‌دهغه دمودی له‌پوره کیدو څخه دمخه دله‌منځه‌وړلو دهیلی په باب لیکلی خبروړکړی. او په‌تاکلی نیټه تړون له‌منځه وړلی‌شی.

پنځلسمه‌ماده:

دغه‌تړون باید تصویب شی‌او یوبل ته‌دهغه‌دمصوبه سندونو د وړکولو له‌وړځی څخه چی‌په کابل کی‌به‌وشی‌داعتبار وړپه‌شی .

د غه تړون په دوو نسخو کی هره یوه یی په دری او روسی ژبی ترتیب او د دوا ړو متن یی برابر اعتبار لری. په مسکو کی د ۱۹۷۸ د دسامبر په پنځمه نیټه ترتیب‌شو .

دنور محمد تره کی	د لیونید بریژنف
دلاس‌لیك ځای .	دلاس‌لیك ځای .
دافغانستان‌دډموکراتیك	دشوروی سوسیالیستی
جمهوریت له خوا .	جمهوریتو نود اتحاد له خوا

د اقتصادی همکاریو په باب دموافقې لاس لیک!

همد غه راز ددواړو هیوادو نودحکومتو نو ترمنځ داقتصادی همکاریو په باب دافغانستان او شوروی اتحاد د دایمی جرګه ګی د جوړیدو په باره کې یوه موافقه لاسلیک شوه.

دغه موافقه دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت له خوادعامی روغتیا وزیر او دپلان جوړولو دچارو وزارت وکیل داکترشاه ولی او د شوروی سوسیالیستی جمهوریتو نو داتحاد له خوا دهغه هیواد دبهرنیواقتصادی اړیکولهپاره ددو لتی جرګه ګی رئیس جلالتماب سیمون سکاچکوف لاسلیک کړه .

دافغانستان ددموکراتیک جمهوری حکومت او دشوروی سوسیالیستی جمهوریتو نو داتحاد حکومت ترمنځ د اقتصادی ټړون متن

دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت او دشوروی سوسیالیستی جمهوریتو نو داتحاد حکومت دافغانستان اوشوروی اتحاد ترمنځ اقتصادی اړیکو بر یالی پر مختیا ته په پام نی او د د واړو هیوادو ترمنځ داقتصادی همکاری دلا تینګښت او پراختیا په هیلی سره ددغو پړاوونو په باره کې دغه موافقه لاسلیک کړه.

لومړی ماده:

دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت اوشوروی اتحاد دحکومتو نو ترمنځ دافغانستان ددموکراتیک جمهوریحکومت او شوروی سوسیالیستی جمهوریتو نو داتحاد حکومت له خوا داقتصادی همکاریو په باره کې دایمی کمیسیون جوړیږی.

دویمه ماده:

دافغانستان اوشوروی حکومتونو تر منځ به داقتصادی همکاری په باره کی ددایمی کمیسیون وظیفی په لاندی ډول وی:

داقتصادی اوتخنیکی اوسوداگری دهمکاری په برخه کی دافغانستان او شوروی اتحاد تر منځ دلاسلیك شوی یو موافقو داجرا څیړل.

ددواړو هیوادو ترمنځ داقتصادی، تخنیکی اوسوداگری دهمکاری دلاپراختیا دامکاناتو څیړنه.

د دواړو هیوادو تر منځ داقتصادی او تخنیکی او سوداگری دهمکاری دمسالو په باره کی دپیشنهادونو برابرول او څیړل.

دریمه ماده:

کمیسیون له افغانی او شوروی دواړو خواوځخه جوړ یږی او خپلی غونډی لږ تر لږه په کال کی یو ځل کوی د کمیسیون غونډه به په ډوارسره په کابل او مسکو کی وشی.

څلورمه ماده:

د کمیسیون تصمیمونه به دهغوله لاسلیك کولو وروسته دباوروړ وی مگر داچی دتصمیمونو په مضمون کی کوم بل تر تیب اتکل شوی وی هغه تصمیمونه به چی د کمیسیون دیوی خوا دنظر دخرگندونی له مخی باید دهیوادونو دمربوطو مقاماتو له خوا تصویب شی د تصویب په برخه کی د کمیسیون دمربوطو لوری درئیس له اعلام وروسته داعتبار وړدی.

پنځمه ماده:

کمیسیون به دهغه دائین نامی له مخی چی ددغی موافقی یوه نه بیلید ونکی برخه ده فعالیت وکړی.

شپږمه ماده:

دغه موافقه به د هغې له لاسلیک ور وسته داعتبار وړ وی. دغه موافقه دمسکو په ښار کی د ۱۹۷۸ کال د دسامبر په پنځمه نیټه چی د ۱۳۵۷ کال دقوس له ۱۴ سره مسمون خوری په دوو اصلی نسخو کی هر ډیوه په دری او روسی ژبه چې دواړه متنونه یې برابر اعتبار لری لاسلیک شوی ده

دافغانستان دډموکراتیک	دشوروی سوسیالیستی
جمهوری حکومت	جمهوریتونو دا تحاد
له خوا	حکومتونو له خوا

دافغانستان اوشوروی اتحاد ترمنځ د ۱۹۷۸ د دسامبر د پنځمی نیټی د اقتصادی همکاری په باب د افغانستان اوشوروی اتحاد دحکومتونو ترمنځ د دایمی کمیسیون دجوړیدو په باره کی د لاسلیک هوی مو افقی ضمیمه

آئین نامه

دافغانستان او شوروی اتحاد ترمنځ د اقتصادی همکاری په باره کی دایمی کمیسیون

دواړه ژمنه کوونکی خواوی د ۱۳۵۷ کال دقوس له ۱۴ نیټی څخه چی د ۱۹۷۸ کال ددسامبر له پنځمی نیټی سره مسمون خوری د اقتصادی همکاری په باره کی د افغانستان اوشوروی اتحاد دحکومتونو ترمنځ دایمی کمیسیون دجوړیدو په باره کی د افغانستان ددموکراتیک جمهوری حکومت او شوروی اتحاد د حکومت ترمنځ د موافقی د پنځمی مادی له مخی دغه ائین نامه تصویب کړه.

لومړی پراګراف:

داقتصادی همکاری په باره کی دافغانستان او شوروی اتحاد دحکومتونوترمنځ دایمی کمیسیون چې په لاندې دول کمیسیون بلل کیږی دافغانستان او شوروی اتحاد ترمنځ داقتصادی او تخنیکی همکاریو او دسوداګری دارې یکو دلا پراختیا او تینګښت دبرابرولو له پاره جوړ شوی دی. د کمیسیون وظیفی داقتصادی همکاری په برخه کی دافغانستان او شوروی اتحاددحکومتونو ترمنځ دهمیشنی کمیسیون دجوړیدو دسوافقی په دو همه ماده کی تا کل شوی دی.

دویم پراګراف:

کمیسیون دافغانستان او شوروی اتحادله دواړو خواو و څخه عبارت دی چې دبرابری داصولو له مخی جوړیږی د کمیسیون دهرلوری رئیسان به دخپل لوری دلاسلیک د ترکیب او هغو بدلو نو نو په باره کی چې په هغه کی منځ ته راځی بل لوری خبر کړی.

دریم پراګراف:

کمیسیون دخپل تصویب شوی کارله پرو ګرام سره سم اوددواړو خواو و درئیسانو دسوافقی له ترلاسه کولو و روسته خپلی غونډی لږترلږه په کال کی یو ځل جوړوی.

د کمیسیون غونډې په وار سره په هر یوه هیواد کې جوړیږي او د غونډې مشري د کمیسیون دهغه لوري دمشر په غاړه ده چې غونډه د هغه په هیواد کې کیږي.

د کمیسیون هرلوري کولای شي د کمیسیون غونډې ته خپل لازم شمیر مستشاران او ماهران راوبولي ددواړو خواوو رئیسان دغونډې له جوړیدو څخه یوه میاشت مخکې لږ تر لږه دهري اجلاسیې او دهغې د وړځې د دستور په باره کې موافقه تر لاسه کوي. په هر اجلاسیه کې هم هغه مسئلې به چې دوړځې په دستور کې منظور شویدي او هم هغه مسئلې چې داجلاسیې د کار په پیل کې ددوا ړو خواوو درئیسانو د موافقې له مخې دوړځې په دستور کې منظور شوي وي وخیږي.

څلورم پراګراف:

د کمیسیون تصمیمونه په غونډو کې د دوا ړو خواوو په موافقو نیول کیږي.

د کمیسیون تصمیمونه په هغه پروتوکول کې چې ددوا ړو خواوو درئیسانو له خوا لاسلیک کیږي قید یږي، ددوا ړو خواوو رئیسان دګډو موافقو د تر لاسه کولو په صورت کې کولای شي د کمیسیون دغونډو تر منځ په واتن کې دسملاسي مسئلو په باره کې تصمیمونه ونیسي ددا ړو ـ

خو او و د رئیسا نو دغه ډ ول تصمیمو نه با ید د کمیسیون د ورو ستی غو نډی په پر و تو کو ل کی قیدشی.

پنځم پر ا گر اف:

د کمیسیون تصمیمونه په هغه ترتیب کی چی د اقتصادی همکاری په باره کی د افغانستان او شو روی اتحا د د حکو متو نو تر منځ دد ایمی کمیسیو ن دجو ړ یدو په باب دمو افقی په څلو رمه ماده کی اټکل شوی دی دباور وړ دی .

شپږم پر ا گر اف :

دغو نډی پر و تو کو ل په دری او ر وسی ژ بو تنظیمیږی او د هغه دو اړه متنو نه بر ابر اعتبار لری .

اووم پر ا گر اف:

کمیسیون دخپلو و ظیفو د اجرا په غرض کو لای شی د فر عی کمیسیو نو او د کا ر د ډ لو دد ایمی او مو قتی و ظیفو اوپر و گر ام امتیاز و نو او دارگا نو نو جو ړ یدل چی د کمیسیو ن د تصمیمو نو د کار له پروگرام سره سم فعالیت کوی و تا کی.

اتم پر ا گر اف :

د کمیسیون هر لو ری خپل مسو ول منشی تا کی، د کمیسیو ن د هر لو ری مسئو ل منشی په کمیسیو ن کی د خپل لوری د کار دسمبنت، دد ایمی

او موقتی ارګانونو دفعالیتونو یووالی او د کمیسیون دغونډو لپاره دلازمو مدرکونو برابرول او تنظیمول او د غه راز د کمیسیون د فعالیت دنورومبر بوطو وظیفوسر ته رسول په غاړه لری. ددغو وظیفو د سر ته رسولوپه بر خه کی به مسئول منشیان په خپل منځ کی همیشنی تماس ټینګ کړی.

نهم پراګراف :

د کمیسیون دغونډواود هغه دد ایمی اوموقتی ارګانو نودجوړ یدو مربوط لګښتونه به د هغه لوری په غاړه وی چی غونډه د هغه په خاوره کی جوړیږی.

له افغانستان نه شوروی اتحاد ته اوله شوروی اتحاد نه افغانستان ته د کمیسیون دغونډو او د هغه دایمی او موقتی ارګانونو دبر خه والو د تګ او راتګ لګښتونه د هغه هیواد په غاړه دی چی خپل استازی په دغو غونډو کی دګډون لپاره لیږی.

لسم پراګراف:

منضمه ائین نامه بنایی د کمیسیون ددواړو خواوود رئیسانوپه موافقی سره بدله شی.

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت او شوروی
سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد کډه اعلامیه

دشوروی اتحاد دکمونیست گوند دمرکزی کمیټی دعالی شورا
درئیسه هیات اوشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو اتحاددوزیرانو
دشورا په ډله دافغانستان دخلکو دموکراتیک گوند دمرکزی
کمیټی عمومی منشی دافغانستان د دموکراتیک جمهوریت دانقلابی
شورا رئیس او صدراعظم نور محمد تره کی د ۱۹۷۸ کال ددسامبر
له خلورمی څخه تراوومی نیټی پوری چې د ۱۳۵۷ کال دقوس له ۱۳۴۱
تر ۱۶ نیټی سره سمون خوری شوروی اتحاد ته رسمی اودوستانه
سفر وکړ.

نورمحمدتره کی په مسکو کی دتم کیدوپه وخت کی دلینن په اړامگاه
او دغه راز دنوم ور کی سپا هی په مقبره باندی دگلو گیډی کیښو دلی.

نو رمحمدتره کی او ورسره هیأت مسکو و کوت او دشوروی خلکو

له‌ژ و ند او کار اوپه‌ټو لنیز و، اقتصادی‌او کلتو ری‌بر خو کی‌د هغوی له بر یا لیتو بو نوسره بلد شو ل.

نو رمحمدتر ه کی او ملګری هیات ته یی‌تو د هر کلی و ویل‌شو چی‌دافغانی خلکو په نسبت دشو روی خلکو ددو ستی داحساساتو ډیرښه څر ګندوی‌شو.

ددغه‌سفر په‌و خت کی دافغانستان دخلکو ددمو کر اتیک ګو ندد مر کزی کمیټی دعمو می منشی دافغا نستان د د مو کر اتیک جمهو ر یت دانقلابی شور ادر ئیس‌او صدر اعظم نو رمحمدتر ه کی‌دافغانستان‌دخلکو دد مو کر اتیک ګو ندد سیا سی دفتر غړ ی او دمر کز ی کمیټی منشی‌د افغانستان دد مو کر اتیک جمهو ر یت دصدر اعظم مر ستیال او دبهر نیو چار و و ز یر حفیظ‌الله‌امین دافغا نستا ن دخلکو د د مو کر اتیک ګو ند د سیاسی‌دفتر غړی‌او دمر کز ی کمیټی منشی‌دافغا نستا ن‌د دمو کر اتیک جمهو ر یت دعامی‌رو غتیا وز یر او دپلا ن جو ړ و لو دچار و دو ز ارت و کیل ډا کتر شاه‌و لی ،د افغا نستان د خلکو د د مو کر ا تیک ګو ند د مر کزی کمیټی‌دسیا سی‌دفتر غړ ی د کر نی‌ا و ځمکو داصلاحا تو و ز یر ډا کتر صالح‌محمدز یری او دافغا نستا ن دخلکو دد مو کر اتیک ګو ندد مر کزی کمیټی‌دسیاسی‌دفتر غړی دافغانستان دد مو کر اتیک‌جمهو ر یت دلو ړ و بنو و نو وز یر پو ها ند محمو د سو ماو د شو روی ا تحا د د— کمو نیست‌ګو ندد‌مر کزی کمیټی‌دعمومی‌منشی‌اودشور و ی‌سو سیالیستی‌— جمهو ر یتو نو د اتحا د د عا لی شو را د ر ئیسه هیا ت صد را ل.ا ی بر یژ نف دشو روی اتحادد کمو نیست ګو ند دمر کزی کمیټی دسیاسی د فتر غړ ی دشو رو ی سو سیا لیستی جمهو ر یتو نو داتحاد د وزیر انو

دشورا رئیس —ا—ان— کاسیگین— دشوروی اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزی کمیټی دسیاسی دفتر غړی او دبهرنیو چارو وزیر ا—ا — ګرومیکو دشوروی اتحاد د کمونیست ګوند دمرکزی کمیټی د سیاسی دفتر دغړیتوب کاندید،دشوروی اتحاد د کمونیست ګونددمرکزی کمیټی سکرتر- ب— ا —ن پونوماریوف ترمنځ خبری وشوی.

دغه راز پدغوخبرو کی دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت له خوا داو بو او بریښنا وزیرپوهنوال منصور ها شمی،د کانـــو او صنا یعو وزیر انجنیر محمد اسماعیل دانش ، دمخابراتو وزیر سید محمد ګلاب زوی په مسکو کی دافغانستان ددموکرا تیک جمهو ریت لوی سفیر ډ اکتر راز محمد پکتین ، د رادیو تلو یزیون معین خیا ل محمد کټـــوازی،د فواید عامی وزارت معین انجنیر صالح پیروز ، د سوداګر ی وز ارت معین محمد حکیم مالیار او د شوروی له خوا د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد دوزیرانو د شورا د رئیس مرستیا ل د شوروی سو سیا لیستی - جمهوریتونو د اتحاد د دولتی پلان جوړولو رئیس— ن — ک —بایبا کوف له بهرنیو هیواد ونو سره د اقتصا دی اړیکو د دولتی کمیټی رئیس س—ا—سکاچکوف ، د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد د بهرنیو چارو د وزیر مرستیال —س—پ — کوزیر ف د بهرنی سوداګری د و زیر مرستیال ـي ـت ـ ګریشین دشوروی اتحاد د کمونیست ګونددمرکزی کمیټی د عمو می منشی همکا ر ـ ا ی —م— سمو تیکین ، په کا بل کی د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد لوی سفیر —ا—م پوزانوف او د شوروی سوسیالیستی اتحاددبهرنیو چارو د وزارت دخانګی رئیس ـوی ـ ک بولدیرف ګډون درلود.

په‌دغوخبرو کی‌چی‌دصمیمیت، دوستی اوښه‌تفاهم‌په فضا کی روانی وی د افغانستان او شوروی داړیکو دمربوطو مو ضوع ګانواو دغه راز دیو شمیر علاقی وړ بین‌المللی مهمو مسالو په باره کی ګټور ی‌او اوږدی خبری وشو ی .

دافغانستان‌اوشوروی‌د دیپلوماتیکواړیکودټینګولو دشپږتمیی کالیزی په درشل کی چی له ۱۹۷۹ کال سره برابر یږی دواړو خوا ووپه زیاتی خوښی سره ځرګنده کړه چی ددواړو هیوادوترمنځ ددوستی،ښه ګاونډیتوب او همکاری اړیکی دبرابر و حقوقو او متقابل احترام داصو لو له‌مخی چی د ۱۹۲۱او ۱۹۳۱ کا ل د نیټی د افغا نستا ن اوشوروی په‌ټړو نونو کی تثبیت شویدی په‌دایمی توګه پرمختیاموسی .

دنظرپه‌اتفاق‌ځرګندشوه‌چی‌په‌افغانستان کی‌دثوردانقلاب‌دبریالیتوب په‌نتیجه کی ددواړو هیوادو ترمنځ د ګټوری‌دوستی او همکاری داړیکو دلا پر مختیااو ټینګښت‌لپاره‌نو ی‌او برابر کیفی‌امکانات‌منځ ته راغلی دی.

دافغانستان‌ددمو کراتیک‌جمهوریت‌اوشوروی‌سوسیالیستی‌جمهوریتونو داتحاد ترمنځ ددوستی، ښه ګاونډیتوب او همکار ي د ټرون‌لاس‌لیک‌چی په‌دی کتنه کی وشو ددواړو هیوادونو ترمنځ د هراړخیزو اړیکودپراختیا او ژو ر تیا په‌لاره کی یودیادونی‌وړ ګام دی‌چی‌دافغانستان له‌لو ری‌څخه د افغانستا ن دخلکو د دمو کرا تیک ګو ند دمر کزی کمیټی عمومی منشی د افغا نستان دد مو کراتیک جمهو ریت دانقلابی شورا رئیس او صدراعظم نور محمد تره کی او دشوروی اتحا د لخوا دشوروی اتحاد د

کمونیست ګوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی دشوروی سوسیالیستی - جمهوریتونو داتحاد د عالی شورا د رئیسه هیات صدر —ل.ای —بر یژنف دغه ټرون لاس لیک کړ.

دواړو خواووتینګه عقیده خرګنده کړه چی دغه ټرون داسی سیاسی ستر سنددي چی نه یوازی به دافغانستان اوشوروی اړیکود دایمی پرمختیا په کار کی مرسته وکړی بلکه په اسیا اوټوله نړی کی به دسولی اوامنیت دتینګښت اوامنیت په ګټه وی .

دواړو خواوو دافغانستان اوشوروی اقتصادی، علمی او تخنیکی همکاری په لوړه توګه وخیړله، خرګنده یی کړه چی داهمکاري دمحتوی له مخی نوي د ه او داوږدی مودی خصوصیت پیدا کوی هغوی په اقتصادی علمی او تخنیکی بیلوبیلو برخو کی دمتقابلو ګټو لرونکو همکا ر یو د زیاتی پراختیا لپاره ګډه علاقمندی وښودله، شو رو ی لوری دافغانی لوری دهیلو سره هر کلی وکړ او د افغانستان د د مو کراتیک جمهوریت داقتصادی او اجتماعی پرمختیا دپنځه کلن پلان په تدوین او طرح کی یی له افغانستان سره د مرستی لپاره تیاری خرګندکړ.

دافغانستان اوشوروی دسوداګری اړیکوبریالی انکشاف په رضامندی سره خرګندشواو دبرابری داصولو متقابلی او کاملة الوداد ګټی پربنسټ دسوداګری د پراختیا له ټولو وسایلو سره دتشویق لپاره دافغا نستان د د مو کراتیک جمهوریت او د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد متقابله علاقمندی خرګنده شوه.

دواړو خواوود کلتوری، پوهـــنی ، روغتیااو ورزش په برخو کی د افغا نستان او شو روی اړیکو په برابره پرمختیا ټینګا ر وکړ لازمه یی وبلله چی دغه اړیکی دي ژوری اوپراخه شی.

هغوي همد غه‌شان له‌دي خبري‌سره‌مينه‌ښيي‌چي د دواړوهيوادونو دخلکو دژوند ،کار، تجربي او بريالي‌توبونو سره بياهم د زياتي بلدتيا په‌غرض د ګډو ندي ،دولتي اواجتماعي موسسو او کلتوري‌اوعلمي تصديو ترمنځ د دوه‌اړخيز و همکاريو او تماسونو په‌اساس مرسته وکړي.

افغاني لوري‌په‌اوسني‌پراوکي، په‌افغانستان کي‌دثوردانقلاب‌دهدفونو اوبر يالي‌توبونو په باب‌اوداقتصادي‌او اجتماعي بدلونونو دپروګرام‌د تطبيق‌په‌لاره کي‌دافغانستان‌دخلکو ددموکراتيک‌ګوندمرکزي کميتي دعملي‌اقداماتو په‌باب چي‌تنظيم شويدي‌اودانقلاب‌د ګټو دفاع ته‌متوجه، دافغانستان دخلکودمبارزي‌په‌باب اودامپرياليزم‌ـ‌بهرني ارتجاع اودهغي دکورنيوملګرو د دسيسودافشا کولواوشنډولو په‌غرض‌مقابل‌لوري‌خبر کړ.

نورمحمدتره کي‌دافغانستان‌دخلکود دموکراتيک ګوندمرکزي کميتي‌او دافغانستان ددموکراتيک‌جمهوريت دحکومت اوخلکو لخوا دنوي ژوندانه‌په جوړښت کي‌د افغانستان ددموکراتيک جمهوريت له هڅو څخه دفعال‌اوهر اړخيز ملاتړله‌املەدشوروي‌اتحاددد کمونيست ګوند له‌مرکزي کميتي،دشوروي‌سوسياليستي جمهوريتونو داتحاد له‌حکومت اوشوروي‌خلکو اوپه‌خپله له‌ـل.اي‌ـبرېژنف‌څخه ژوره مننه وکړه.

دشوروي‌اتحادسترتابه‌څرګنده کړه‌چي شوروي‌خلک‌هغه‌ټولنيز او اقتصادي‌تحولات‌چي‌دافغانستان‌په دموکراتيک‌جمهوريت کي تطبيق کيږي په‌زيات ښه نيت سره تعقيبوي اوحاضر دي‌چي‌په‌راتلونکي کي‌د افغانستان له‌دوستو خلکوسره‌په‌عدالت اوبرابري‌اوپه ټولوسيلو دمتکي نوي‌ټولنې په‌جوړونه کي‌مرسته وکړي.

دواړوخواوو دبین المللی ډیر وډهمو مسالو په بر خه کی دخبر و اتر و په ترڅ کی په داسی حال کی چی دسو لی دتینګښت اودخلکودامنیت لپاره او دپو ره بی وسلی کو لو اودبین المللی دیتانت لپاره یی له مبار زی څخه خپل دایمی ملاتړ تائید کړ دبین المللی پر ابلمو نو دپر اخه دایری په باب یی دافغانستان د دمو کراتیک جمهو ریت اودشو روی سوسیالیستی جمهو ریتونو داتحاد دنظر ورته والی څر ګندګړ .

شو روی لو ری ډاډ څر ګند کړ چی دافغانستان دمو کراتیک جمهوریت چی دسو لی غو ښتنی بهر نی سیاست تعقیبوی دخپلو اک اونا پیلی هیو اد په توګه په منځنی ختیځ او په جنوبی اسیا کی دسولی اوثبات په لاره کی به د کتنی وړ ګټورنقش سر ته ورسوی .

دواړوخو اوودبین المللی حالاتو د کړ کیچنتیا له امله چی دنظامی امپریالیزم او ارتجاعی مشخصو اوتاکلو میلیتار یستی ټولنو دفعالیتو نو په نتیجه کی پدی وروستیو وختو کی منځ ته راغلی اندیښنه څرګنده کړ ه. دواړو خواو و دبین المللی دیتانت دتینګښت اوژو ر تیا اودنړی ټو لوسیمو ته د هغه د خپر ولو په لاره کی مبار زی ته دنوی پار و و نکی قوی د ور کو لو په غرض دژو ر واقداماتو د کولو نه ځنډ یدو نکی ضرورت څر ګندکړ .

ددو اړ و خو اووپه عقیده دو سله و الو مسابقو دپیاو ړ تیادمخنیوی په لاره کی داقداماتو غو ره کول ز یات اهمیت لري. دو اړه خو اووی نظر لری چی دستراتیژیکی تعرضی و سلو د کمو لوپه باب د شو روی اواسر یکادخبرو ژ ر پای ته رسول او دبی و سلی کو لو په باره کی د ملګرو ملتو دمو سسی دعمو می ټو لنی دخاصی غو نډی دپیشنهادو نو پر له پسی عملی کول دغه هدف ته په رسیدلو کی ار ز ښتنا که بر خه لری.

افغانی لوری پدې برخه کې د هغو هیوادونو د امنیت د ګرانتیو د تینګښت په برخه کې چې اتومي وسله نړۍ د بین المللي کنوانسیون د جوړیدو او د غه راز په هغو هیوادونو کې چې په اوسو دخت کې اتومي وسله نړۍ او دسلګرو ملتو دموسسې د عمومي تولنې د ډیرشمې غونډې د غورلپاره د عمومي تولنې د تائید وړ ګرځیدلی یادونه وکړه.

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت اوشوروي اتحاد په بین المللي اړیکو کې د قوي دنه استعمال په باب دنړیوالترون دژرلاس لیک کیدو طرفدار دي. دوي غواړي چې د دغه شان ترون لاسلیک د نړیوالې نوې جګړې د ګواښ د کمزورتیا او د پورې ډبې وسلې کولو په لورد پرمختګ لپاره د ښو شرایطو د پیدا کولو په لاره کې یو مهم ګام دی. دواړو خواوو خرګنده کړه د بې وسلو کولو نړیوالې جرګې د ډیرژر جوړېدو شي.

شوروي لوري دنا پیلتوب د نهضت د فعال برخه اخیستونکي په توګه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت رول ته د زیات ارزښت ورکړه هیله وشوه چې په ۱۹۷۹ کال کې په هاوانا کې د نا پیلو هیوادو د دولتونو او حکومتونو د مشرانو دجرګې جوړیدل به د بین المللي ستر و مسالو په حل کې یو مهمه برخه اخیستنه وکړي او د دغو هیوادو د یووالي د تینګښت او هغه اصولو لې تینګښت په برخه کې به چې د نا پیلتوب د نهضت پنسټ جوړوي مرسته وکړي.

دواړو خواوو د سوسیالیستي هیوادواونا پیلو هیوادواوملي خپلواکي غوښتونکونهضتونو د عمل دیووالي د زیات تینګښت لزوم خرګندړ او د بین المللي سولې او امنیت او دملتونو د خپلواکي په لاره کې په مجادله

کی د دغو طبیعی اړو یوالا نو ترمنځ دیوالی په پراختیا او ټینګښت سره خپله هیله وښو دله.

دواړوخواوو د منځنی ختیځ حالاتوخیړل، دامریکاد متحدوایالاتو په ملاتړ یې دمصر او اسرائیلو دجلاسازشو نو سیاست چې یو ازې په دغه سیمه کې دخطرنا کو نویوستونز و د پیدا کیدو سبب دی په کلکه و غانده، هغوی خپل دغه باورچې دغه شا ن جلا اودعر بو ضد سازشو نه چې د دغی سیمې د تو لو خلکود ګټوسره سم دمنځنی ختیځ دمسالی هر اړخیزسیاسی حل ته درسیدو د ګټې مخالف اودبین المللی امنیت د ګټو مخالف دي څرګند کړ. هغوي په بغداد کې دعر بی دولتو نو اوحکومتونو د مشر انو دجر ګې له فیصلو څخه خپل ملاتړ اعلام کړ.

هغوي باورلري چې دغه فیصلې به دمنځنی ختیځ د ګټو ر اوعادلانه حل په لا ره کې په مجا دله کې اوپه منځنی ختیځ کې د سو لی په ګټه اود نړ یوالی سو لی په ګټه مهم او مثبت رو ل تر سره کړي.

دواړ و خواوودقاری دستونزود غوراوخیړلوپه ترڅ کې په آسیا کې د سو لی او امنیت دټینګښت اوددغې قاری دهیو ادوتر منځ دارېکو په پراختیا کې په بر خې اخیستوسره دسر ستی په بر خه کې خپله کلکه عقیده بنکاره کړه.

هغوي څرګنده کړه چې ددولتو نو ترمنځ اړ یکی دخپل سیاسی اوټو لنیز سیستم دتا کلو لپاره دهر ملت دحق اودقوي له استعمال اویادقوي داستعمال له ګو ابښ څخه پر ته اودحا کمیت حق اودسر حدو نو مصئو نیت ته داحترام

اوپه کورنیو چارو کی دلاس نه و هنی او دپو ره بر ابر واومتقا بلو کټو له مخې په اقتصادی اونو رو بر خو کی دهمکاری په اساس پر مختیا ومومی.

دواړو خواووپه اسیا اونړۍ کی له سولی سره د علاقه مندی له مخې دسوله غوښتنی دوسایلو له لاری د دوستانه خبرو په وسیله دافغانستان د دموکراتیک جمهوریت اودپاکستان داسلامی جمهوریت تر منځ دسیاسی اختلاف د حل په باب نظر څرګندکړ.

دواړو خواوو له دی امله چی داسیا په جنوب ختیځ کی یا هم لانجی پیدا شوی چی د دغی سیمی دټولو دولتونو تر منځ دښه ګاونډیتوب د اړیکو دپراختیا خنډ دی اند یښنه وښودله. هغوی په هندوچین کی د حالاتو ګډوډی ته متوجه له بهر نه د هر ډول لمسونو په خلاف اود بهرنیو قوتونود هرډول هلوځلو په ضد خپل ژور مخالفت څرګندکړ.

دافغانستان دموکراتیک جمهوریت اوشوروی اتحاد دویتنام لـــه قهرمانو خلکوسره چی له ملی حاکمیت اود خمکی د تمامیت اوله خپلی آزادی اوخپلواکی څخه په غوښه توګه دفاع کوی خپله مرسته اوپیوستون څرګندوی.

دواړه خواوی په ټولو نړیوالو مظاهرو کی داستعمار اونژادپالنی د بیخی له منځه وړلو طرفدار دی. دوی د هغی عادلانه مبارزی له امله چی د زمبابوی اونامی بیا او جنوبی افریقا خلک یی د خپلی ملی آزادی او خپلواکی لپاره کوی خپله مرسته اوملاتړ څرګندوی.

دافغانستان دمو کراتیک جمهوریت اوشوروی اتحاد څرګندوی چې دوی به د تیری کوونکو قوتو نو د دسیسو اودنو رو هیو اد ونو په کو رنیو چارو کې دلاس وهنې پرضد خپلې پر له پسې مجادلې ته دوام ورکړی.

له دې امله هغوی په داسې حال کې چې د ایران د حاکمیت حق او خپلواکې ته په احترام ټینګار وکړ څرګنده یې کړه چې هغوی د هغه هیواد په کورنیو چارو کې چې له شوروی اتحاد او دافغانستان له دمو کراتیک جمهوریت سره ګډه پوله لري له بهر څخه دلاس وهنې سره بیخې مخالف دی.

دواړو خواوو دتړلو هیوادو لخوا دملګرو ملتود موسسې داصولو او دمنشور دمراعاتو د رعایت کولو په بنسټ د دغې بین المللي موسسې د اغیزمن تیادلاتو ټینګښت دضرورت په باب د بین المللي سولې او امنیت د ټینګښت لپاره د هغې دمهمو رولونو په نظر کې نیولو سره د خپل نظر یو والي څرګندکړ.

شوروی اتحاد ته دافغانستان د خلکو د دمو کراتیک ګوند د مرکزی کمیټې د عمومي منشي او دافغانستان د دمو کراتیک جمهوریت د انقلابي شورا د رئیس او صدراعظم د سفر له نتیجو څخه د خوښۍ په څرګندولو سره دواړو خواوو څرګنده کړه چې هغه خبرې اوموافقې چې د کتنې په ترڅ کې تر لاسه شوې د شوروی سوسیالیستي جمهوریتونو د اتحاد او دافغانستان د دمو کراتیک جمهوریت تر منځ د دوستۍ ـ ښې ګاونډیتوب او ګټورې همکارۍ د زیاتې پراختیا په لاره کې ستره بر خه لري.

دافغانستان دخلکوددموکراتیک ګوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی اودافغانستان د دموکراتیک جمهوریت دانقلابی شورا رئیس او صدراعظم نور محمد تره کی دشوروی اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی اودشوروی اتحاد دعالی شورا دریاست هیات صدر ـ ل. ای. برژنف اودشوروی سوسیالیستی اتحاد دوزیرانو دشورا رئیس ا. ن. کاسیگین ته بلنه ورکړه چی دا فغانستان د موکراتیک جمهوریت ته رسمی اودوستانه سفر وکړی. دغه بلنی په خوښی سره ومنل شوی اودسفرونو د وخت په باب به وروسته موافقه وشی.

کتابخانه آسمایی



دولتی مطبعه